
# جغرافیه

## اتم ټولګی

د پوهنې و
د تعلیمي نصاب د پراخ
د روزنې او د ساینس د
د تعلیمي نصاب د پرا
کتابونو د تالیف لو

جغرافیه - اتم ټولګی



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې پیرودل او پلورل په کلکه منعه دی. له سر غړوونکو سره به یې قانوني چلن وشي.

ISBN 978-9936-25-03

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# جغرافیه

## اتم ټولګی

۱۳۹۰
ه.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ليکوالان:**

- د سرمؤلف مرستياله شکيلا حبيب رحيمي
- مؤلف محمد رفيق مومند
- داکتر محمد رازق بهير

**مسلکي اډيټور:**

- پوهنمل دکتور اندوس رحمت څواکمن

**د ژبې اډيټور:**

- محمد حکيم تنيوال

**ديني، سياسي او فرهنگي کميټه:**

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد يوسف نيازي
- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې، د پوهنې وزارت سلاکار

**د څارنې کميټه:**

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين.
- دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس.

**طرح او ډيزاين:** حميدالله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　　دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې　　　هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　　د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو　　　د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي　　　پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي　　　هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلېږي　　　لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به　　　لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر　　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توگه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| گڼه | لړلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱- | لومړی څپرکی | (۱) |
| ۲- | د څپرکي موخې | (۲) |
| ۳- | لومړی لوست ـ د اروپا لویه وچه وپیژنئ | (۳) |
| ٤- | د اروپا د طبیعي جغرافیې په هکله څه پوهېږئ؟ | (۵) |
| ۵- | دویم لوست ـ الف : د اروپا د لویې وچې غرونه | (۵) |
| ٦- | دریم لوست ـ ب: سیندونه | (۷) |
| ۷- | څلورم لوست ـ ج: د اروپا د جهیلونو په هکله څه پوهېږئ؟ | (۱۱) |
| ۸- | پنځم لوست ـ د اروپا د سمندرګیو (بحیرو) په هکله څه پوهېږئ؟ | (۱۳) |
| ۹- | شپږم لوست ـ د اروپا د لویې وچې د خلیجونو په هکله څه پوهېږئ؟ | (۱۵) |
| ۱۰- | اووم لوست ـ د اروپا لویه وچه څرنګه اقلیم لري | (۱۷) |
| ۱۱- | اتم لوست ـ د اروپا د سیاسي جغرافیې په هکله څه پوهېږئ؟ | (۲۱) |
| ۱۲- | نهم لوست ـ د اروپا د بشري جغرافیې په هکله څه پوهېږئ؟ | (۲۵) |
| ۱۳- | لسم لوست ـ د اروپا د لویې وچې د ژبې، نژاد په هکله څه پوهېږئ؟ | (۲۹) |
| ۱٤- | یوولسم لوست ـ د اروپا ددین او مذهب په هکله څه پوهېږئ؟ | (۳۳) |
| ۱۵- | دولسم لوست ـ د اروپا د اقتصادي جغرافیې په هکله څه پوهېږئ؟ | (۳۵) |
| ۱٦- | دیارلسم لوست ـ د اروپا دکانونو او صنایعو په هکله څه پوهېږئ؟ | (۳۹) |
| ۱۷- | څوارلسم لوست ـ د اروپا د لویې وچې د ترانسپورت په هکله څه پوهېږئ؟ | (٤۳) |
| ۱۸- | پنځلسم لوست ـ هوایي کربنې | (٤۵) |
| ۱۹- | دویم څپرکی | (۵۱) |
| ۲۰- | د څپرکي موخې | (۵۲) |
| ۲۱- | شپاړسم لوست ـ د امریکا د لویې وچې د جغرافیایي موقعیت په هکله څه پوهیږئ | (۵۳) |
| ۲۲- | اوولسم لوست ـ د امریکا د لویې وچې د کشف په هکله څه پوهیږئ؟ | (۵۵) |
| ۲۳- | اتلسم لوست - طبیعي جغرافیه | (۵۷) |
| ۲٤- | الف ـ د امریکا د لویې وچې د غرونو په هکله څه پوهیږئ؟ | (۵۷) |
| ۲۵- | نولسم لوست ـ ب . دامریکا د سیندونو په هکله څه پوهیږئ؟ | (٦۱) |
| ۲٦- | شلم لوست ـ د جنوبي امریکا سیندونه | (٦۵) |
| ۲۷- | یو ویشتم لوست ـ ج ـ د امریکا د جهیلونو په هکله څه پوهیږئ؟ | (٦۷) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸- دوه ویشتم لوست ـ د ـ د امریکا د سمندرگیو په هکله څه پوهیږئ؟..............................(۷۱)
۲۹- درویشتم لوست ـ هـ ـ د امریکا د لویې وچې د خلیجونو په هکله څه پوهیږئ؟................(۷۳)
۳۰- څلورویشتم لوست ـ د جنوبي امریکا خلیجونه..........................................(۷۷)
۳۱- پنځه ویشتم لوست ـ و ـ د امریکا د لویې وچې د اقلیم په هکله څه پوهیږئ؟..................(۷۹)
۳۲- شپږویشتم لوست ـ د امریکا د سیاسي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟ ..........................(۸۳)
۳۳- اووه ویشتم لوست ـ دامریکا د لویې وچې د بشري جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟..............(۸۵)
الف ـ نژاد او ژبې ..........................................................................(۸۵)
۳۴ ـ اته ویشتم لوست ـ ب: د امریکا د نفوسو او نژاد په هکله څه پوهیږئ؟.........................(۸۹)
۳۵- نهه ویشتم لوست ـ د امریکا د اقتصادي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟........................(۹۱)
۳۶- دیرشم لوست ـ لاتینه امریکا ...............................................................(۹۵)
۳۷- یو دیرشم لوست ـ د شمالي امریکا د مواصلاتي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟...............(۹۹)
۳۸- دوه دیرشم لوست ـ جنوبي امریکا .........................................................(۱۰۳)
۳۹- جغرافیایي اصطلاحات.......................................................................(۱۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

# اروپـــا

په دې څپرکي کې لاندې موضوعګانې لولو.

د اروپا لويه وچه و پيژنئ


١،١ جغرافيايي موقعيت او څلور خواوې
٢،١ طبيعي جغرافيه
الف- غرونه
ب- سيندونه
ج- جهيلونه
د- سمندرګي (بحيرې)
هـ- خليجونه
و- اقليم

٣،١ سياسي جغرافيه
٤،١ بشري جغرافيه
٥،١ اقتصادي جغرافيه
٦،١ مواصلاتي جغرافيه




(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څپرکي موخې

ګرانو زده کوونکو: په دې څپرکي کې به لاندینیو علمي موخو سره اشنا شئ:

ـ د اروپا د لويې وچې جغرافيايي موقعيت
ـ د اروپا د لويې وچې مهم غرونه
ـ د اروپا د لويې وچې مهم سيندونه
ـ د اروپا د لويې وچې مهم سمندرګي او جهيلونه
ـ د اروپا د لويې وچې خليجونه
ـ د اروپا د لويې وچې اقليم
ـ د اروپا د لويې وچې سياسي جغرافيه (سرحدونه او هېوادونه)
ـ د اروپا د لويې وچې بشري جغرافيه (نفوس، نژاد، ژبې او دين)
ـ د اروپا د لويې وچې اقتصادي جغرافيه (کرنه، صنعت، سوداګري او اړيکې)
ـ د اروپا مواصلاتي جغرافيه (ځمکنی، سمندري او هوايي ترانسپورت)


ګران زده کوونکي کولای شي لاندې مهارتونه سرته ورسوي.

ـ د اروپا د لويې وچې نقشې رسمول او د سياسي پولو پيژندل.
ـ د اروپا د نقشې پر مخ د سيندونو او غرونو تشخيص کول.
ـ د اروپا د لويې وچې د سياسي واحدونو پيژندل
ـ د اروپا د لويې وچې د نقشې پر مخ د مهمو کرنيزو توليداتو پېژندل.
ـ د اروپا د لويې وچې د نقشې پر مخ د غوره کانونو پېژندل.
ـ د اروپا د لويې وچې د نقشې پر مخ د غوره بندرونو پېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

# د اروپا لویه وچه ویږنئ




د اروپایي جغرافیایي موقعیت

پورتني شکل ته وګورئ کومو سمندرونو او سمندرګیو اروپا را چاپېره کړې ده؟

۱،۱- جغرافیایي موقعیت او څلور خواوې:

اروپا د نړۍ د کوچنیو لویو وچو له ډلې څخه ده چې په معتدله سیمه کې پرته ده. د دې لویې وچې شمال خواته شمالي کنګل سمندر، جنوب خواته یې د مدیترانې سمندرګی، ختیځ ته یې د اسیا پراخه لویه وچه چې د اورال غرونو، د اورال سیند، دکسپین سمندرګي، قفقاز غرونه او تور سمندرګي په وسیله له اروپا څخه بېله شوې او لویدیځ ته یې د اقیانوس اطلس (اتلانتیک سمندر) دی.

_ ایا د اروپا لویه وچه (براعظم) بېله وچه ده؟

اروپا د اسیا د لویې او پراخې وچې سره نښتې ده او له همدې سببه یو شمیر جغرافیه پوهان اسیا او اروپا یوه لویه وچه ګڼي او د یوریشیا په نامه یې یادوي.

د اروپا د لویې وچې پراخوالی ۱۰ میلیون کیلومتر مربع او په ۲۰۰۶ م کال کې یې د وګړو شمیر ۷۳۲،٦۱۲،٦۰۰ تنوته رسیده. ځینې مشهور صنعتي هېوادونه په دې لویه وچه کې پراته دي.

د اروپا په قاره کې څو ټاپو وزمې شته دي، ایاکولای شئ هغه په نقشه کې پیداکړئ او نومونه یې واخلئ؟

د پاڼې د بل مخ په نقشه کې د اروپا ټاپو وزمه کتلای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د اروپا د ټاپووزمو نقشه

د اروپا لويه وچه د ماتو سواحلو زياتو سمندرگيو او خليجونو د شته والي له امله چې په وچه کې ننوتي دي، زيات شمير ټاپو وزمې رامنځته کړي دي. چې موږ يې دلته د ځينو لويو ټاپو وزمو نومونه اخلو:

- د اسکانديناويا ټاپو وزمه، چې په هغې کې د ناروې او سويډن هېوادونه پراته دي.
- د بالکان ټاپو وزمه چې په هغې کې د البانيې، بلغاريې، بوسينې او هرزگونې، صربستان، کرواسي او مونتنگرو هېوادونه موقعيت لري.
- د ايبري ټاپو وزمه چې په هغې کې د اسپانيې او پرتگال هېوادونه پراته دي.

د اپنين ټاپو وزمه چې په هغې کې د ايټاليا هېواد موقعيت لري.

## د ټولگي دننه فعاليت:

ښوونکی دې زده کوونکي په ډلو وويشي، هره ډله دې د لوست د مهمو مطلبونو په هکله بحث او خبرې وکړي او د بحث پايله دې د ډلې استازی ټولگيوالوته ووايي. همدارنگه د پورتنی نقشې له مخې د ټاپو وزمو نومونه پخپلو کتابچو کې وليکئ.

## پوښتنې

متن ولولئ او لاندنيو پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱ـ د يوريشيا له اصطلاح څخه موخه څه ده؟

۲ـ د اروپا لويه وچه په کومه اقليمي سيمه کې موقعيت لري؟

۳ـ کوم غرونه د اسيا او اروپا د لويو وچو ترمنځ بيلوونکې طبيعي پوله پېژندل شوې ده؟

## له ټولگي څخه بهر فعاليت

د اروپا بې ليکنې (سپينه) نقشه رسمه کړئ په هغې کې جغرافيايي موقعيت، څلور خواوې او ټاپو وزمې په گوته کړئ او د جغرافيې په راتلونکې درسي ساعت کې يې ټولگي ته ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم لوست:

# ۱- ۲، د اروپا د طبيعي جغرافيې په هکله څه پوهيږئ؟




ه پورتني شکل کې د اروپا طبيعي نقشي ته وګورئ.

## الف - د اروپا د لويې وچې غرونه

د اروپا لويه وچه، که څه هم زياته پراخه نه ده، خو بيا هم د جغرافيايي بېلابېلو جوړښتونو او د سواحلو د ننوتو له امله د نړۍ له ټولو قارو څخه زياته اوبوته لاره لري.
د اروپا په لويه وچه کې بيابانونه او بې اوبو او بې وښو دښتې نشته، خو د هغې پرځای زياتره هېوادونه د غرونو لويو او کوچنيو لړيو پوښلي دي، چې څينې يې د جيولوجي (ځمکې پيژندنې) د لومړۍ دورې پورې اړه لري.
د اروپا د لويې وچې غرونه، لوړې او ژورې په څو برخو ويشل شوي دي؟
د اروپا د لويې وچې په شمالي برخوکې غرونه د ځمکې پيژندنې د علم پخواني دي. لوړ نه دي او ګنبځي ډوله ځوکې لري. په دې سيموکې پراخه چمنونه او ډېر هم ليدل کېږي. د اروپا دې سيمې ته چې په ډېره اوږده دوره کې سوليدلې، لوړوالی يې له منځه تللی او پرځای يې لړې لوړې او ژورې منځته راغلې دي د ځمکې پيژندنې له نظره ورته پخواني ويل کېږي لکه دفرانسې د ماسيف سنترال *Massif Central* د غرونو لړۍ چې د زړو غرونو په نوم شهرت لري.
د اروپا په جنوبي سيموکې د ګونځې لړونکو لوړو غرونو لړۍ ليدل کيږي، په دې سيموکې په واورو اوکنګلونو پټې او تېرې څوکې شته دي. د غرونو لمنې زياتره سخت څوړې لري. د الپ اوپيرني غرونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سیمه کې پراته دي. د دې غرونو په منځ کې ډېر او له اوبو څخه ډک شته دي، د دې سیندونو د پاسه د برېښنا لوی بندونه او دستګاوې جوړې شوی دي چې له انرژۍ څخه يې په صنعت او د اوبو څخه يې په کرنه کې ګټه اخېستل کېږي.

د اروپا جنوبي سیمې ته چې په هغې کې ګونځې لرونکي لوړ غرونه شته او اورغورځوني او زلزلې هم په هغې کې منځ ته راځي. د اروپا دې برخې ته ځوانه اروپا ویل کېږي.

د اروپا زړې اوسولیدلې لوړې ژورې



ځواني لوړې ژورې د الپ له تېرو څوکو سره



## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لوست مهمو موضوعاتو په هکله بحث او خبرې وکړي او د ډلې استازي دې هغه په ټولګي کې ټولګیوالوته وړاندې کړي.




## پوښتنې:

۱- د الپ او د پیرني د غرونو لړۍ د اروپا د لوېې وچې په کومه برخه کې پرتې دي؟

۲- د اوبو د برېښنا لوېې دستګاوې او بندونه د اروپا د کومو غرونو په لړیو کې جوړې شوې دي؟

۳- اروپا ولې بیابان او دښتې نه لري.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اروپا سپینه (بې لیکنې) نقشه وګورئ، او په هغې کې د دووغرونو لړۍ، يو سمندر او د يوې ابنا نوم، چې د پوښتنې په نښې سره په ګوته شوي ولیکئ.

دریم لوست


# ب - سیندونه




د اروپا د سیندونو نقشه

د اروپا له سیندونو څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟

د اروپا لویه وچه په شمالي معتدله سیمه کې پرته ده او ډېر اوربښت لري، نوځکه په دې لویه وچه کې ډېر سیندونه بهیږي. د ختیځې اروپا زیاتره سیندونه د روسیې په لویدیځ کې د والداي له لوړې سطحې څخه سرچینه اخلي. هغه سیندونه چې په منځنی اروپا کې بهیږي د الپ دغرونو له لړیو څخه سرچینه اخلي.



د اروپا د دې برخې سیندونه د ځمکې د ساحې د لږوالي له امله د مخه تر دې چې دا سیندونه له یوبل سره یوځای شي سمندرګیو ته تویيږي. یوازې د ختیځې اروپا سیندونه د ځمکې پراخوالي په سبب اوږده دي. ځینې سیندونه په جنوب کې د مدیترانې په سمندرګي کې تویيږي. لکه د ایټالیې دهېواد د تیبر او پو *po* سیندونه.

ځینې نور سیندونه په لویدیځ کې د اطلس په سمندرکې تویيږي، لکه د فرانسې په هېواد کې دګارون سیند او په انګلستان کې د ټایمز

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند اویا په ختیځه اروپا کې په تور سمندرگي کې تویيږي، لکه د دانیوب سیند.
أیا کولای شئ د دانیوب، والگا، راین، الب اودن د سیندونو بهیر په نقشه کې وښیاست؟
هغه سیندونه چې د اروپا په شمال کې بهیږي څه ناڅه ټول کال منظم او له اوبو څخه ډک وي،خوهغه سیندونه چې د اروپا په جنوب کې بهیږي په تودو موسمونو کې یې اوبه کمیږي. د اروپا له سیندونو څخه زیاتره د خړوبولو او بیړیو چلولو لپاره گټه اخیستل کیږي، خو له بده مرغه د دې سیندونو په غاړو د کارخانو او صنعتي فعالیتونو شتوالی د هغو اوبو د ککړتیا سبب کیږي.
هغه مهم سیندونه، چې په نومړو دریو حوزوکې تویيږي دا لاندې دي:

### ۱ ـ د دانیوب سیند:

دا سیند د اروپا له مشهورو سیندونو څخه دی چې له څو هیوادونو څخه تیریږي او په بیلابیلو نومونو سره، لکه: دوناهو، دونا، دوناچ، دونای او دوناریا یادیږي. د اسیند ۲۸٦۰ کیلومتره اوږد او د المان په هیواد کې د تور ځنگل له غرونو څخه سرچینه اخلي، او په تور سمندرگي کې تویيږي، د دانیوب سیند د والگا له سیند څخه وروسته د اروپا مهم سیند شمیرل کیږي او د لاتینې اروپا شمالي پوله جوړوي. دا سیند د المان، اتریش، صربستان (پخوانی یوگوسلاویا یوه برخه)، هنگري، بلغاریا، رومانیا او سلواک له سرحدي پولې څخه تیریږي.

### ۲- د ټایمز سیند:

د ټایمز یا ټیمز Thames سیند، چې د انگلستان د هیواد په جنوب لویدیځو سیموکې بهیږي، د انگلستان د هیواد پلازمینې لندن له منځنی برخې څخه تیریږي او د شمال سمندرگی د ټایمز په خلیج کې تویيږي. د دې سیند اوږدوالی ٣٤٤ کیلومتره دی. څرنگه چې د اسیند په اوارو سیموکې بهیږي، نو د بیړۍ چلولو وړ هم دی.

په لندن کې د ټایمز سیند



(c) ketabton.com: The Digital Library





په اروپاکې د راین د سیند یوه برخه

۳_ د راین سیند:

دا سیند د سویس د هیواد له غرونو څخه سرچینه اخلي او د فرانسې او المان د هیوادونو له سرحد څخه د تیریدو وروسته د المان له هېواد څخه د هالنډ هیواد ته ننوځي او د شمال په سمندرگي کې تويږي.

د اروپا دغه نورلاندې لوی او کوچني سیندونه هم په نومورو درې گونو حوزو کې تويږي.

لومړۍ گڼه جدول: د اروپا د نورو سیندونو نومونه:

| گڼه | د سیند نوم | اوږدوالی په کیلو متر | مصب (خوله) |
|---|---|---|---|
| ۱ | ولگا | ۳۴۹۰ | د کسپین سمندرگی |
| ۲ | اورال | ۲۳۹۶ | د کسپین سمندرگی |
| ۳ | دنیپر | ۲۰۰۰ | کسپین |
| ۴ | دن | ۱۹۶۰ | د آزوف سمندرگی |
| ۵ | ویستولا | ۱۰۷۰ | د بالتیک سمندرگی |
| ۶ | پچورا | ۱۸۴۱ | د بارنتس سمندرگی |
| ۷ | لوار | ۱۰۰۰ | د اطلس سمندر |

### د ټولګي د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې دیوه سیند د ګټې او اقتصادي ارزښت په هکله بحث او خبرې وکړي او د بحث پایله دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې:

د سمو جملو په مخ کې د (س) توری او دغلطو جملو په مخ کې د (ن) توری ولیکئ.

١- هغه سیندونه چې په شمالي اروپاکې بهیږي د کال په تاوده موسم کې یې اوبه کمیږي (   )

٢- د دانیوب سیند د اروپا ډیر اوږد سیند دی. (   )

٣- د اروپا د صنعتي هیوادونو د زیاترو سیندونو اوبه ککړې دي (   )

٤- ولګا د اروپا ډیر غټ سیند دی (   )

٥- هغه سیندونه چې د اروپا په جنوب کې بهیږي، دکال په تودو موسمونو کې یې اوبه کمیږي (   )

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د اروپا بې له لیکنې (سپینه) نقشه کاپي یا رسم کړئ اوپه هغې کې د اروپا مهم سیندونه په نښه او د جغرافیې په راتلونکې درسي ساعت کې یې د ټولګي مخې ته وښیاست.




د اروپا بې لیکنې (سپینه نقشه) د زده کوونکو ځوابونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم لوست

# د اروپا د جهيلونو په هکله څه پوهيږئ؟



د اروپا د جهيلونو نقشه

د ځمکې د وچې لويې ژورې چې د اوبو څخه ډکې شوي وي، په کوم نامه ياديږي؟
له جهيلونو څخه څه اقتصادي ګټه اخيستل کيدای شي؟

## ج- جهيلونه:

د ځمکې طبيعي لويې ژورې چې له اوبو څخه ډکې شوي وي ، او څلورو خواوته يې وچه وي د جهيل، کول ولاړو اوبو په نوم ياديږي.

د ځينو جهيلونو اوبه مالګينې او د يو شمير نورو اوبه خوږې او رڼې وي. د معتدله او باراني سيمو د جهيلونو اوبه، چې اروپا هم په هغې کې شامله ده، معمولاً خوږې وي.

د اروپا غربي کوچنی جهيل



د اروپا د لويې وچې په زياترو سيمو کې ځيني جهيلونه شته دي، چې د پراخوالي، ژورتيا او د سمندر څخه د لوړتيا له امله سره توپير لري. د دي جهيلونو زيات شمير د اروپا په شمال کې د اسکانديناويا، په ټاپو وزمې او د روسيې د هيواد په لويديځ کې پراته دي.

د بيلګې په توګه د فنلنډ د هيواد ۱/۱۰ برخه خاوره جهيلونو نيولې ده، چې زياتره يې د هيواد په جنوب کې موقعيت لري او له همدې امله يې د فنلنډ هيواد د زرو جهيلونو د هيواد په نوم يادکريدی.

د دې لويې وچې څه ناخه ټول جهيلونه خوږې اوبه لري او د سيندونو سرچينه جوړوي. زياتره لوی او ژور جهيلونه د ډول ډول سمندري ژوو او نباتاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دودي لپاره ښه شرايط برابروي او شاوخوا اوسيدونکي يې د کبانو په نيولو، کوچنيو بيړيو په جوړونې، او د کبانو د جالونو په جوړونې بوخت دي. ځينو جهيلونه د ښکلو منظرو، تفريحي سيمو او د هوټلونو په جوړونې او د توريزم په صنعت کې بنسټيز رول لوبولی دی.

| ګڼه | د جهيل نوم | د جهيل موقعيت | د جهيل ډول |
|---|---|---|---|
| ۱ | سايما (Saimaa) | د فنلنډ هېواد په جنوب کې | يخچالي |
| ۲ | پايي جان (Paijanna) | د فنلنډ هېواد په جنوب کې | يخچالي |
| ۳ | لادوګا (Ladoga) | د اروپايي روسيې په لوېديځ کې | يخچالي |
| ۴ | انګا (Onega) | د اروپايي روسيې په لوېديځ کې | يخچالي |
| ۵ | جينيوا (Geneva) | د سويس په هېواد کې | يخچالي کوهستاني |
| ۶ | کونستانس (Konstanz) | د سويس په هېواد کې | يخچالي کوهستاني |
| ۷ | بالتون (Bolton) | د هنګري په هېواد کې | تکتونيکي |

دوهمه ګڼه جدول د اروپا نور مهم جهيلونه (اضافي معلومات)

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو کې تنظيم شي، ټولې ډلې دې لاندې پوښتنې ته د يوبل په مشوره د اروپا د طبيعي نقشې پربنسټ ځواب برابر کړي او د هرې ډلې استازی دی هغه ټولګيوالو ته وښيي.

- د اروپا د لويې وچې د لويو جهيلونو موقعيت په نقشه کې معلوم کړئ.

## پوښتنې

- د څلور ورکړشوو ځوابونو څخه سم ځواب غوره او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱- هغه هېواد چې هغه ته د زرو جهيلونو د هېواد نوم ورکړشويدی:

الف) سويډن ب) ناروې ج) هنګري د)فنلنډ

- لنډ ځواب ورکړئ

۲- جهيل تعريف کړئ؟

۳- د معتدله او باراني سيمې د جهيلونو د اوبو خوند څرنګه دی؟ ولې؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

د خپلې کورنۍ په مرسته د لاندې پوښتنې ځواب برابر کړئ:

ايا زموږ په هېواد کې جهيل شته دی؟ اوکه چيرې وي نو نوم يې د اړوندو ولايتونو سره وليکئ او همدارنګه له هغو څخه د ګټې اخيستلو د څرنګوالي په هکله لنډ معلومات وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

## د- د اروپا د سمندرگيو(بحيرو) په هکله څه پوهيږئ؟




د اورپا د سمندرگيو نقشه

پورتنۍ نقشه په ځير سره وگورئ ولې د اروپا په لويه وچه کې ډير سمندرگي شته دي؟

د اروپا د لويې وچې ډير لوی سمندرگی د مديترانې سمندرگی دی چې د خپل ځانگړې موقعيت له امله د دريو لويو وچو (اسيا، اروپا او افريقا) ترمنځ پروت دی. ټول کال د بيړې چلولو وړ دی او د سويز کانال په کيندلو سره دې سمندرگي د اتلانتيک سمندر د هند له سمندر سره نښلولی او د نړۍ ډيره برخه سوداگريز مالونه له دې لارې ورل کيږي. دجبل الطارق لرې ژورې ابناء ادا سمندرگی د اتلانتيک له سمندر سره نښلولی دی.

د دې سمندرگي غاړې ډيرې وتلې او ننوتلې دي، چې د دې سمندرگي ټول ټاپوگان او ټاپووزمې يې په بيلو بيلو برخو ويشلي دي او هريو د بيل سمندرگي په نوم ياديږي، لکه د ادرياتيک Adriatic، تيرنين Tyrrhenian ، اژه Aegean او داسې نور سمندرگي.

د داردانيل Dardanelle منحني شکله اوږده ابناء د مديترانې سمندرگی د مرمرا Marmora کوچني سمندرگي، او د باسفورس Bosporus ابناء د مرمرا سمندرگی د تور سمندرگي سره نښلوي چې ځانگړې اقتصادي او ستراتيژيکي ارزښت لري.

د انگلستان او فرانسې د هيوادونو ترمنځ د مانش سمندرگي يا English Channel پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، چې د لویدیځې او جنوبي اروپا او د افریقا د لویې وچې ترمنځ د وړلو او راوړلو لویه لاره جوړوي. د مانش د سمندرګي په شمال کې د شمال سمندرګی پروت دی، چې د اتلانتیک د سمندر یوه برخه ګڼل کیږي. ژورتیاپې لږه او دکبانو د ښکار، د بیړیو چلولو، د نفتو او طبیعي ګاز د رایستنې لپاره یې ښه چاپیریال منځته راوړی دی.

د ناروې سمندرګی هم لږه ژورتیا لري د کبانو د روزنې لپاره یې ښه چاپیریال منځته راوړی دی. د بالتیک سمندرګی د سکاندیناویا د ټاپووزمې په جنوب کې پروت او د بیړیو چلولو وړ دی. د اروپا شمالي بحیرې لکه بارنتس سره له دې چې شمالي کنګل سمندر ته نږدې پرتې دي. د کال په اوږدو کې کنګل وي خود ګلف ستریم د تود بهیر له امله د بیړیو چلولو وړ دی. د ناروې په هیوادکې د تروندهیم Trondheim او برګین Bergen بندرونه او د روسیې ارخانګلسک Archangelsk بندر، چې په دې حوزه کې یوازنی د بیړیو چلولو بندر دی، د یا دولو وړ دی.

**د ټولګي دننه فعالیت**

زده کوونکي دې د بېلابېلو سویو له مخې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د اروپا نقشې څخه په ګټې اخیستنې سره لاندنی یوې پوښتنې ته ځواب برابر کړي.

۱- د سویز کانال کومې بحیرې (سمندرګي) سره نښلوي؟

۲- د اروپا په شمال کې لوی بندرونه کوم دي؟ هغه په نقشه کې پیدا او خپلو ټولګیوالو ته یې وښیاست؟

۳- د باسفورس او دردانیل د ابناګانو موقعیت په نقشه کې وښیاست؟

**پوښتنې**

۱- د مدیترانې سمندرګی د کومو لویو وچو ترمنځ بیلونکی حد او پوله جوړوي؟

۲- د اروپا د لویې وچې په شمال کې کوم سمندرګی پروت دی، نوم یې ولیکئ.

۳- کومه ابناء د مدیترانې سمندرګی د اتلانتیک له سمندر سره نښلوي.

لاندې جمله بشپړه کړئ

٤- د سویز د کانال په کیندلو سره د اتلانتیک سمندر د ...... او ........ سمندرګیو له لارې د هند سمندر سره نښلول شوی دی.

**د ټولګي څخه بهر فعالیت**

د اروپا بې لیکنې (سپینه) نقشه له ( ۱۰ ) مخ څخه رسم کړئ او د سمندرګیو نومونه یې په ټاکلو ځایونوکې ولیکئ.

شپږم لوست:

# هـ ـ د اروپا د لويې وچې د خليجونو په هکله څه پوهېږئ؟




د اروپا د خيلجونو نقشه

په سواحلو کې د اوبو زيات ننوتل، چې ډېرو خواوته يې وچه او يوه خواېې اوبه وي، په کوم نوم ياديږي؟
له خليجونو څخه څه اقتصادي ګټې اخيستل کيداى شي؟

د اروپا د لويې وچې ځانګړى جغرافيايي موقعيت د شمالي کنګل سمندر، د اتلانتيک سمندر او د مديترانې سمندرګي ترمنځ د ټاپو وزمې په بڼه او د بالتيک سمندرګي موقعيت د وچې په دننه کې د ډيرو خليجونو د منځته راتګ سبب شوى دى.

لويو او ژورو خليجونو د بندرونو جوړونې ته طبيعي ښه شرايط برابر کړي دي. د دې لپاره چې لويې بيړۍ سواحلوته نږدې راشي او د سمندري قوي څپو څخه په امان کې اوسي، د بارولو او خالي کولو لپاره پوره وخت ولري، اوپه لنګر اچونې کې اسانتياوې پيښېږي شي. هغه ساحلي هيوادونه چې دا ډول شرايط ولري په طبيعي توګه د اضافي لګښتونو پرته د بندرونو جوړونې لپاره ورڅخه ګټه اخيستلاى شي.

هغه ساحلي هيوادونه چې دا ډول خليجي ښه شرايط نه لري، نو د بندر جوړونې لپاره ډيرو لګښتونو ته اړتيا لري.

د اروپا صنعتي هيوادونو د پرمختګ يو علت هم نړيوالو اوبو ته لاره (لاس رسى) او د بيړيو چلولو وړ بې شميره خليجونو شته والى دى، چې له هغې لارې کولاى شي له سلو څخه د زياتو ساحلي هيوادونو سره سوداګريزه اړيکې ټينګې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنیو خلیجونو هم د ډېرو خوراکي موادو او لړو ژورو او نسبتا ارامو اوبو په درلودلو سره د سمندري ډول ډول ژوو د روزنې لپاره ښه شرایط برابر کړي دي. له همدې کبله د دې خلیجونو او د کبانو ښکار، او د اوبو لاندې ځمکې یې د کانې زیرمود پلټلو لپاره په ځانګړي ډول د نفتو او طبیعي ګازونو له پلوه ډیر ارزښت لري، خو د لویو بیړیو د چلونې لپاره د ګټې اخیستنې وړ نه دي.

دریمه ګڼه جدول د اروپا د لویې وچې مهم خلیجونه (د مطالعې لپاره دي)

| ګڼه | د خلیج نوم | د بندر نوم | د بندر موقعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | تریست (Trieste) | تریست | د ادریاتیک د سمندرګي په شمالي غاړه کې |
| ۲ | تارنتو (Taranto) | تارنتو | د ایټالیا د هیواد په جنوب د مدیترانې د سمندرګي په غاړه |
| ۳ | جینوا (Geneva) | جینوا | د ایټالیا د هیواد په جنوب د مدیترانې سمندرګي |
| ۴ | لیون (Lion) | تولون | د فرانسې د هیواد په جنوب د مدیترانې سمندرګي په غاړه |
| ۵ | بیسکی (Biscay) | بوردوکس | د فرانسې د هیواد په لویدیځ کې د اتلانتیک سمندرپه غاړه |
| ۶ | ریګا (Riga) | ریګا | د لیتوانیا دهیوادپه لویدیځ کې د بالتیک سمندرګي په غاړه |
| ۷ | فلنلد | تالین (Tallinn) | د استونیا د هیواد په لویدیځ کې |
| ۸ | بوتوني (Bothoni) | تورکون | دفنلنډ هیواد په جنوب کې |

## په ټولګي کې فعالیت

ښوونکی دې د بېلابېلو سویو زده کوونکي په خو ډلو وویشي او هره ډله دې د اروپا د نقشې له مخې له لاندینو پوښتنو څخه یوې پوښتنې ته ځواب ورکړي او د ډلې استازی دې یې ټولګیوالوته ولولي.

۱- د مدیترانې د سمندرګي پر غاړه خلیجونه په نقشه کې پیدا او موقعیت یې تثبیت کړئ.

۲- د اتلانتیک سمندر ختیځې غاړې خلیجونه په نقشه کې پیدا او موقعیت یې تثبیت کړئ.

۳- د بالتیک د سمندرګي پر غاړو خلیجونه په نقشه کې پیدا او د هغو موقعیت تثبیت کړئ.

## پوښتنې

سم ځوابونه د (س) په توري او غلط ځوابونه د (ن) په توري نښه کړئ.

۱- بندر د سمندر یا سمندرګي پر غاړې هغه ځای دی چې مسافرتونه، صادرات او واردات ورڅخه ترسره کیږي.

(　　)

۲- خلیج له اوبو څخه ډکې، لوېې او ژورې کندې څخه عبارت دی، چې څلورو خواوته یې وچه وي. (　　)

لنډ ځواب ورکړئ

۱- د اروپا د لوېې وچې د جنوبي لویو خلیجونو نومونه ووایاست؟


۲- کوم خلیجونه په طبیعي توګه د بندري تاسیساتو جوړونې ته برابر دي؟ او ولې؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د اروپا بې لیکنې نقشه له (۱۰) مخ څخه کاپي یا رسم کړئ او په هغې کې د اروپا د لویو خلیجونو نومونه په ټاکلو ځایونوکې ولیکئ.

اووم لوست

# و- د اروپا لویه وچه څرنګه اقلیم لري؟




د اروپا د اقلیم د ډولونو نقشه

اروپا ولې ډول ډول اقلیم لري؟

د اروپا کومه برخه وچ او بري اقلیم لري؟ ولې؟

د اروپا د لویې وچې اقلیم په خو علتونو نسبت هغو وچوته، چې په ورته جغرافیایي عرض البلد کې موقعیت لري، معتدل دی. په همدې سبب وچ او تاوده بیابانونه او زیات بارانونه په کې نه لیدل کیږي.

د اروپا لویه وچه په معتدله سیمه کې موقعیت لري اولږه برخه یې په قطبي سیمه کې پرته ده.

د دې وچې له دریو خواو یعنې شمال، جنوب او لویدیځې خوا اوبه چاپیره شوي دي څه ناڅه ټوله اروپا د پوره مرطوبې او لنده بل هوا څخه اغیزه منه کیږي.

د اروپا لویې وچې غرونه دومره لوړ نه دي چې د اروپا دننني برخې ته د اطلس سمندر او د مدیترانې د سمندرګي د لنده بل د ننوتلو خنډ وګرځي.

څلورم علت یې د ګلف ستریم (د سمندري تودو اوبو بهیر) شته والی دی، چې د اروپا د لویدیځو برخو څخه تیریږي او د اروپا د دې برخې د هیوادونو اقلیم د معتدله کیدو سبب کیږي.

د اروپا د لویې وچې اقلیم په عمومي توګه په څلورو لویو اقلیمي سیمو ویشل کیږي، چې عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### الف- جنوبي سیمه (مدیترانه یي)

په دغه برخه کې د اروپا د جنوب سمیه شامله ده، چې د مدیترانې د سمندرګي په غاړو کې موقعیت لري او مدیترانه یي آب او هوا لري، مدیترانه یي آب او هوا دوه ځانګړتیاوې لري:

ـ ژمی یې معتدل او باراني وي.

ـ اوړی یې تود او وچ وي.

د دې سیمې رطوبت او لنده بل د لویدیځې غاړې د هیوادونو په پرتله لږ دی او ډیر اورښت یې د مني او ژمي په موسمونو کې وي.

### ب- د اتلانتیک سمندر ګاونډی سیمې:

دې سیموکې د انګلستان او ایرلنډ هیوادونه شامل دي، چې د اتلانتیک سمندر په سیمه هم شهرت لري. د دې سیمې هوا په ژمي او اوړي کې معتدله او ملایمه ده او څرنګه چې نوموړې سیمه د اتلانتیک سمندر د بادونو په لوري کې پرته ده، نو ډیر لنده بل لري، او د اروپا ډیره باراني سیمه ګڼل کیږي. ځکه نو په ټولو موسمونو او په ځانګړي ډول په ژمي کې ډیر باران اوري. دا سیمه د کال په زیاترو وختونو کې د وریځ او لړو لرونکې وي.

د نباتاتو د ډولونو نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج- مرکزي برخه وچه (بري):**

په دې برخه کې مرکزي او ختیځه اروپا شامله ده. څرنګه چې په دې سیمه کې د هوا لنده بل لږدی، نو د اورښت او ژمي د تودوخې په درجه کې یې ډېر توپیر شته. یعنې په اوړي کې یې هوا ډېره توده او په ژمي کې ډېره سړه ده. دا سیمې د اتلانتیک د سمندر او د مدیترانې له سمندرګي څخه د لیرېوالی او د لنده بل د لږوالي له امله قاره یي یا بري (وچه) اب و هوا لري. د اورښت کچه یې لږه او هغه هم د اوړي په فصل کې لږ باران پکې اوري.

**د- شمالي برخه (قطبي):**

په دې برخه کې روسیه او د اسکانديناويا ټاپووزمې زیاته برخه شامله ده. آب او هوا یې له قطبي سیمې ته د نږدیوالي په سبب ډېره سړه او وچه ده. په دې برخه کې واوره له باران څخه زیاتې اوري او د زیات سوړوالي له امله سیندونه او سمندرګي د کال په اوږدوکې له ۵ تر ۸ میاشتو کنګل وي. په دې آب او هوا کې کله کله د اروپا شمالي، مرکزي او ختیځې برخې هم په کې شامليږي.

په عمومي توګه، د اروپا لندې برخې د لویدیځې اروپا هیوادونه دي او زیاتره د اطلس سمندر د نمجنو بادونو په لوري کې واقع شوي دي، نو ځکه په هغه سیمه کې ډېر باران اوري. د اروپا وچې برخې هم د ختیځې او منځنۍ اروپا هیوادونه دي. لکه: د هنګري د هیواد په څیر چې د اطلس سمندر او د هغه د نمجنو بادونو څخه ډېر لرې دی، نو له لږ لنده بل څخه برخمن دی او باران په دې هیوادونوکې له نورو برخو څخه ډېر لږ دی، نو په ژمي کې ساړه او په اوړي کې تاوده وي.

**بادونه**

**منځنۍ او شمالي اروپا:**

دا سیمې د لویدیځو بادونو په لوري کې، چې د اطلس سمندر لخوا الوزي، واقع شوي دي. او په ژمي کې هم په دې سیمو کې قطبي ساړه بادونه لګیږي.

د مدیترانې په حوزه کې د بادونو لوری



(c) ketabton.com: The Digital Library

**مدیترانه یي اروپا**:

دا سیمې د سړو او تودو بادونو په لوري کې واقع شوې دي، چې په اوړي کې تاوده او وچ بادونه د افریقا د لویې صحرا له لوري را لګیږي، اوپه ژمي کې ساړه بادونه، چې د الپ د غرونو له خوا را لګیږي، داسیمه اغیزمنوي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د نقشې له مخې د اروپا اب او هوا توضیح کړي، همدارنګه دې ووايي چې لاندې هر یو له دغو هیوادونو څخه ډول اب او هوا لري؟

فنلنډ ( )

ایټالیا ( )

انګلستان( )

ایرلنډ ( )

ایسلنډ ( )

### پوښتنې

۱- مدیترانه یي اب او هوا څه ځانګړتیاوې لري؟

۲- د اتلانتیک سمندر ګاونډۍ سیمې څه ډول اب او هوا لري، شرحه یې کړئ؟

۳- د اروپا د شمالي سیمو د اب او هوا په هکله څه پوهیږئ، توضیح یې کړئ؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

هغه څه مو چې د تیرو لوستونو څخه زده کړي د قاره یي یا بري هوا د ځانګړتیاوو په هکله یې معلومات ولیکئ، اودلیلونه راوړئ چې ولی منځنۍ او ختیځه اروپا دا ډول اب او هوا لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# ۱-۳، داروپا د سیاسي جغرافيې په هکله څه پوهیږئ؟




د اوړپا د لويي وچې د هېوادونو سياسي نقشه

اروپا د پخوانۍ نړۍ له دریو لویو وچو څخه ده، چې د شمالي نیمې کرې د شمالي عرض البلد د ۳۵ او ۸۰ درجو او د ختیځ طول البلد د ٦۰ درجو او د لویدیځ طول البلد د ۲۵ درجو ترمنځ موقعیت لري. ختیځه لیرې نقطه یې د اورال غرونه د اورال سیند، لویدیځه لیرې نقطه یې ایسلینډ لویدیځه برخه، شمالي لیرې نقطه یې د ناروې د هیواد شمالي برخه او جنوبي لیرې نقطه یې د کریت ټاپو دی. اوږدوالی یې له شمال څخه تر جنوب پورې ٦٤۰۰ کیلومتره او سور یې له ختیځه تر لویدیځه پورې ٤٨۰۰ کیلومتره دی.

## پولې (سرحدونه):

اروپا له دریو خواووڅخه د نړۍ د لویو اوبو په واسطه را چاپیره شوې او د آسیا د لویې وچې په پرتله کوچنۍ ټاپو وزمه ده، چې د شمال لخوا په شمالي کنگل سمندر، د جنوب لخوا د مدیترانې په سمندرگي، تورسمندرگي، کسپین سمندرگي او ختیځ لخوا د آسیا په لویې وچې پورې، چې د اورال سیند او اورال غر دا دواړه وچې سره بیلوي، نښتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څرنګه کولای شو د اروپا د لویې وچې سیاسي واحدونه سره وویشو؟
- نقشې ته ځیر شئ او د اروپا سیاسي واحدونه وښیاست؟

د اروپا د لویې وچې دسیاسي واحدونو شمیر ٤٤ هیوادونو ته رسیږي. له هغو څخه ۹ هیوادونه یې په وچه کې پراته دي او اوبوته لارنه لري.
لکه د سویس، لوکزمبورک، سلونیا، صربستان، مقدونیه، اتریش، هنګري، سلواک، چک او داسC نور هیوادونه. همدارنګه په دC لویه وچه کې د خاورې د پراخوالي له پلوه ۹ کوچني هیوادونه، لکه: لوکزامبورک، مالتا، نختن شین، اندرو، مونتیګر، سلونیبا، سان مورینو، موناکو، واتیکان او داسې نور هم شته.

هغه اروپایي هېوادونه چې سمندر ته لار نه لري




### (د مطالعې لپاره اضافي معلومات)
### د اروپا اتحادیه

دا اتحادیه په ۱۹۵۷ م کال کې منځته راغله، چې په لومړیو کې یې بلجیم، لویدیځ المان، هالند، لوکزامبورک، فرانسه او د ایټالیې هیوادونه یې غړي وو، خو اوس ۲۷ غړي لري.
د دې اتحادیې د منځته راتللو هدف (موخه) عبارت ده له:

- د ګډون کوونکو هیوادونو ترمنځ د مالي او اقتصادي مرستو لازیاته پراختیا.
- په دفاعي او بهرنیو چاروکې د ګډ سیاست منځته راوړل.
- د ګډون کوونکو هیوادونو دننه په عدلي چاروکې مرستې.


(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۹۹ م كال كې د غړيو هيوادونو ترمنځ په راكړه وركړه او بانكي معاملو كې اروپايي پولي واحد يورو رواج شوه. د اروپا سياسي واحدونه كولاى شو په لاندې ډول وويشو.

ـ د شمالي اروپا هيوادونه، لكه: سويډن، ناروې، فينلنډ، ايسلينډ او ډنمارك.
ـ د جنوبي اروپا هيوادونه، لكه: ايټاليا، يونان، اسپانيه، پرتگال او نور.
ـ د ختيځې اروپا هيوادونه، لكه: روسيه، سپينه روسيه، اوكراين او نور.
ـ د لويديځې اروپا هيوادونه، لكه: المان، فرانسه، انگلستان، هالنډ، بلجيم او نور.
ـ د منځنۍ اروپا هيوادونه، لكه: اتريش، چك، پولينډ، او نور.

د اروپا لويې وچې په دې برخه كې د هيوادونو ترمنځ گمركي پولې نشته او سياسي اړيكې د يوه تړون له لارې، چې د اروپا اتحاديه يې بولي، سرته رسيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د لوست په مهمو ټکو بحث وکړي او د بحث پایلې دې ټولګي والو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې

د لوست د متن څخه په ګټې اخیستنې سره لاندې پوښتنې بشپړې کړئ.

۱- اروپا د ........... له ..................لویو وچو څخه ده؟

۲- اروپا د شمالي عرض البلد د ............ او د................ درجو ترمنځ پرته ده؟

۳- د اروپا ختیځه لیرې نقطه.......... لویدیځه لیرې نقطه یې............ شمالي لیرې نقطه یې............ او جنوبي لیرې نقطه یې ...................... ده.


### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د اروپا سیاسي نقشه رسمه کړئ او په هغې کې د هیوادونو او د هغو د پلازمینو نومونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست


# ۱-۴ ، د اروپا د بشري جغرافيې په هکله څه پوهيږئ؟




په اروپاکې د نفوسو د ويش نقشه

د اروپا په لويه وچه کې د طبيعي ښو شرايطو، يعنې پراخو ځرو ځايونو، د اوبو ډکو سيندونو، معتدل اقليم او پوره اورښت د شتوالي له امله د صنعت او پوهې پراختيا، د اقتصادي فعاليتونو او کارونو امکانات ښه برابر شوي دي، نو په همدې دليل د اروپا په زياترو برخوکې زيات وګړي ميشته شوي دي خوبياهم د اميشته کيدل د اروپا د لويې وچې په ټولو برخوکې يو ډول نه دي.

د اروپا په شمالي سيمو لکه روسيه کې د هوا د زيات سوړوالي له امله لږ وګړي ژوند کوي. په داسې حال کې چې د مديترانې د سمندرګي او همدارنګه منځنۍ او لويديځه اروپاکې ډير خلک ژوند کوي.



په اروپاکې د لږ نفوس سيمې انځور

د اروپا زياتره خلک په کومو سيموکې ميشته شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اروپا کې د لندن د نقوسو ډک ښار

دي؟ او ولې؟

۱- د اروپا له وګړو ډکې برخې د مهمو سيندونو پرغاړو، د صنعتي مرکزونو په شاوخوا او کرنيزو ښو ځمکو کې ليدل کيږي.
۲- سره له دې چې د اروپا لويه وچه د نړۍ د ډيرو نفوسو لرونکو لويو وچو څخه ده، خو د نفوسو وده يې لږه ده، ځکه چې ډيرې کورنۍ، په ځانګړي ډول په صنعتي هيوادونو کې د زياتو اولادونو د درلودلو سره مينه نه لري، نو ځکه په اروپايي ځينو هيوادونو، لکه: المان او ايټاليا کې د نفوسو وده په ډيرې چټکۍ سره مخ په کميدو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلکو ډلې

د اروپا د خلکو ډېره ستره ډله روسان دي، چې د اروپا د خلکو لويه ټولنه جوړه وي. له روسانو څخه وروسته په اروپا کې د خلکو بله لويه او مهمه ډله جرمنان دي، چې زياتره په منځنی اروپا (المان، اتریش او سویس) کې استوګنه لري او وروسته بيا په ترتيب سره لاتين، فرانسوي او انګلوساکسون ډلې دي چې هره يوه يې د اروپا د خلکو زياته برخه جوړوي.

روسی څېره



(c) ketabton.com: The Digital Library

جرمنۍ ځېره



### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د نفوسو د ویش او د خلکو د ډلو په هکله بحث او خبرې وکړي او پایله دې د ډلې استازی ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې

د سم ځواب په مخ کې د (س) توری او د ناسم ځواب په مخ کې د (ن) توری ولیکئ.

۱- د اروپا د وګړو زیاته برخه د سیندونو په غاړو، صنعتي مرکزونو او کرنیزو برخو کې استوګنه کوي. (   )

۲- د اروپا په ټولو برخو کې د خلکو استوګنه، د طبیعي ښو شرایطو، له اوبو ځخه د ډکو سیندونو، معتدل اقلیم د صنعت او علم د پراختیا له امله یو شانته ده. (   )


۳- د اروپا د لویې وچې د خلکو مهمه او لویه ډله روسان دي. (   )

### له ټولګي ځخه بهر فعالیت

د اروپا د لویې وچې د لیکنې پرته نقشه رسم کړئ او په هغې کې د وګړو ویش او ګڼوالی په ځانګړي رنګ سره وښیاست.

لسم لوست

# د اروپا د لویې وچې د ژبې او نژاد په هکله څه پوهیږئ؟




ایا پوهیږئ چې د اروپا خلک له کوم نژاد څخه دي؟

د اروپا د لویې وچې د وګړو ډیره برخه سپین پوټکي جوړوي. سپین نژاد په دې لاندې دریولویو ډلو ویشل کیږي:

## ۱- جنوبي قومونه:

جنوبي قومونه له یوناني یا لاتیني څخه عبارت دي، چې د خیرې رنګ یې غنم رنګه دی. دا قومونه د ایټالیا په جنوب لویدیځ کې د بالکان په ټاپو وزمې، هسپانیې، پرتګال او بلجیم په هیوادونو کې استوګن دي.

## ۲- جرمني قومونه:

دا قومونه زیاتره په منځنۍ او شمال لویدیځه اروپا کې استوګن دي او په انګلستان کې انګلوساکسون په بلجیم کې فلامند اوسیږي، هالنډیان، المانیان، سویډنیان، ناروېژیان، ډنمارکیان او د سویسیانو یوه برخه هم له دې جملې څخه ګڼل کیږي.

## ۳- ختیځ قومونه یا سلاویان:

دا قومونه زیاتره سپین رنګ او طلایي ویښتان لري او زیاتره په ختیځه اروپاکې استوګنه کوي چې د پولینډیانو، چکیانو، سلواکیانو، صربیانو او کرواتیانو (پخوانی یوګوسلاویا) څخه عبارت دي، چې زیاتره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ختيځې اروپا اوسېدونکي دي. دا خلک د هنګري خاورې له شمال څخه جنوب ته تيرشوي او منځنۍ اروپا ته يې لاره موندلې ده. له پورتنيو درې ګونو قومونو سربيره چې ورځنې يادونه وشوه کوچني پخواني قومونه هم شته، چې له هغو څخه ايبريان د اروپا په غرنيو سيمو، سلتيان په ايرلينډ، سکاټلنډ او په بريتانيا کې او د يهوديانو ډلې په روسيې او پولينډ کې دي.

## ژبې

د اروپا د خلکو د ژبو اصلي ښاخ کومه ژبه تشکيلوي؟

په اروپا کې په بيلابيلو ژبو خبرې کيږي او د دې ژبو ډولونه دومره زيات دي، چې د يو ځانګړي نژاد يا ډلې د خلکو هره برخه هم په يوه ځانګړې ژبه خبرې کوي. د اروپا د خلکو ژبې د ژبنۍ ريښې له پلوه په عمومي توګه په درې برخو ويشل کيږي: ځينې ژبې يې لکه ايتاليايي او اسپانوي لاتينه ريښه لري، ځينې لکه: الماني او انګليسي جرمني ريښه او ځينې نورې لکه روسي او پولنډې سلاوي ريښه لري.

د اروپايي ټولنې زيات وګړي، چې په يوه ځانګړې ژبه خبرې کوي هغه روسان دي. البته ځينې مذهبي




(c) ketabton.com: The Digital Library



لړه کي او اقليتونه لکه مسلمانان او يهوديان او ځينې نژادي لړه کي هم د هغو هيوادونو، چې په کې اوسيږي په مروجو او دوديزو ژبو خبرې کوي.

## اضافي معلومات:



## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او هره ډله دې په لاندې مطلبونو بحث او خبرې وکړي.

۱- نژاد په اروپا کې ۲- ژبې په اروپا کې

## پوښتنې

سم ځواب غوره کړئ.

۱- اروپايان له کوم نژاد څخه دي؟

الف، تورپوستکي ب، زېړ پوستکي ج، سپين پوستکي د، سره پوستکي

۲- د جنوبي اروپا د خلکو نژادي ځانګړتياوې کومې دي؟

الف: سپين رنګي ب: طلايي ويښتان ج: غنم رنګه د: ګرګوتي ويښتان

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- سلاويان زياتره په کومو اروپايي هيوادونو کې استوګنه کوي.

۲- د اروپايي خلکو د ژبو د مهمو ريښو نوم واخلئ. ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت


په لاندې جدول کې د هيوادونو نومونه د ورکړشوي متن څخه په ګټې اخيستنې او اړوندو استوګنو قومونو ته په راولړئ، په خپلو کتابچو کې ثبت کړئ.

| جنوبي قومونه | جرمني قومونه | ختيځ قومونه |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

یولسم لوست

# د اروپا د دین او مذهب په هکله څه پوهیږئ؟




په اروپا کې د بېلا بېلو دینونو نقشه

د اروپا زیاتره خلك (د اروپایي ترکیې، د روسیې د یو شمیر وګړو او دبالکان د ټاپووزمې د هیوادونو په ځانګړي ډول له پخوانی یوګوسلاوی څخه پرته) د عیسوي دین پیروان دي. چې حضرت عیسي (ع) خپل پیغمبر ګڼي، د دوی په ګمان عیسوي دین په دریو لویو نورو مذهبونو ویشل شوې دی، چې هغه دادي:

### ۱- کاتولیک (Catholic)

د عیسویت ددین د پیروانو زیاته برخه کاتولیکان جوړوي. د دې مذهب لاربنود او مشر یې لوی پاپ دی. دا مذهب په لومړۍ درجه زیاتره د اروپا په لویدیځ او جنوب یعنی د بلجیم، فرانسې، په لاتینو قومونو کې اسپانیې، پرتګال او په ځانګړي ډول ایټالیې کې او همدارنګه په دوهمه درجه د اتریش، لهستان(پولیند) مجارستان، چک او سلواک د خلکو په منځ کې رواج لري. د نړۍ د کاتولیکانو د لاربنود هستوګنځی د ایټالیا د هیواد په پلازمینه دروم په ښار کې دی، چې واتیکان نومیږي.

### ۲- پروتیستانت (Protestant):

د پروتستانت مذهب د کاتولیك له مذهب څخه وروسته ډیر زیات اهمیت لري. پروتستانت د حضرت عیسي (ع) څخه د زده کړو د پیروی له پلوه د دوی په نظر د کاتولیکانو سره اختلاف لري. هغوی د مارتین لوتر په نامه د یوه الماني پخواني روحاني مشر د لارښوونو پیروي کوي. په اروپا کې د جرمني قومونو د پروتستانت د مذهب زیات شمیر پیروان جوړوي. دا مذهب په سویډن، ناروې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بالکان په ټاپو وزمه کې يو جومات

دنمارک، انګلستان، هالنډ، المان او اتريش هيوادونو او د سويس د هيواد په يوه برخه کې ډير رواج لري.

### ۳- د ارتوډوکس مذهب (Orthodox):

د اروپا د لويې وچې دريم مهم مذهب دی چې زياتره په ختيځې او جنوب ختيځې اروپاکې رواج لري د روسيې، رومانيې، يونان او بلغاريې د هيوادونو او په عمومي توګه د سلاو د نژاد زياتره وګړي د هغه پيروان دي.(د يادونې وړ ده چې خدای (ج) ته يوازينی بشپړ دين د اسلام دين دی او بس). پرعيسوي دين سربيره مسلمانان هم په ټوله اروپا کې تيت او خپاره شوي دي چې ډير شمير يې د بالکان په ټاپو وزمې البانيې، بوسني او هرزګونې، بلغاريې او اروپايي ترکيې کې استوګنه لري. په دې هيوادونو کې لرغوني او له برم څخه ډک جوماتونه شته دي. همدارنګه د اروپا په بيلابيلو هيوادونو، په ځانګړي ډول روسيې او پولينډ کې يو شمير يهوديان هم ژوند کوي.



په واتيکان کې د سن پتر شاهي ماڼۍ يا کليسا

#### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په ډلو وويشل شي او هره ډله دې د اروپا د دينونو په نقشه کې د بيلابيلو دينونو او مذهبونو ساحې معلومې او په نښه کړي.

#### پوښتنې


۱- د عيسوي دين ځانګړې وليکئ.

۲- د کاتوليک مذهب زياتره د اروپا په کومو برخو کې رواج لري؟

۳- پروتستانت د کوم سړي پيروان دي او هغه د کوم ځای و؟

۴- د اروپا د کومې برخې خلک د ارتودوکس پر مذهب عقيده لري؟

۵- مسلمانان زياتره د اروپا په کومو برخو کې استوګنه لري؟




#### له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د اروپا له ليکنې پرته نقشه کاپي او يا انځور کړي، د مذهبونو مروجه ځايونه دې په نښه کړي او د جغرافيې په راتلونکی لوست کې دې يې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# ۱ - ۵ ، د اروپا د اقتصادي جغرافيې په هکله څه پوهېږئ؟



په اروپاکې پرمختللې کرنه

ولې د اروپا اقتصاد پرمختللی دی؟

اروپا د صنعتي لويو سيمو څخه يوه ده او ډېر پرمختللی اقتصاد لري. دا لويه وچه د ځمکې لاندې زېرمې، لکه د ډبرو سکارو او نفت (د شمال په سمندرگي) کې لري. خو دا زېرمې نشي کولای د دې لوېې وچې د لويو صنايعو اړتياوې پوره کړي، نو ځکه د خپلوصنايعو دکار د دوام لپاره د نړۍ د نورو هيوادونو کاني لومړنيو موادوته اړتيا لري او د دې توکو واردوونکې ده. نن ورځ اروپا له نوي پوهنې او تخنيك څخه په گټې اخستنې سره توانيدلې ده چې لويه صنعتي سيمه و اوسي. د المان، انگلستان او فرانسې د هيوادونو صنعتي توکي ټولې نړۍ ته صادريږي.

## کرنه او مالداري:

د اروپا لوېې وچې د معتدله آب او هوا او پوره اوربښت د لرلو له امله د کرنې او مالدارۍ د ودې لپاره ښې لارې چارې برابرې کړې دي. کرنه څه ناڅه په ټوله اروپاکې رواج لري او د عصري ماشين الاتو او علمي لاروچارو په کارولوسره ترسره کيږي. سره له دې هم د دې لوېې وچې هيوادونه خپل د اړتيا وړ خوراکي توکو $\frac{1}{5}$ برخه برابروي، خو د هالنډ هيواد دخپلو کورنيو اړتياوو له پوره کولوسره سره يوه اندازه خواړه بهرته هم استوي. په دې هيواد کې کرنه او مالداري په علمي طريقه ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، د لبنیاتو او دغوښو د محصولاتو تولید په کې هم زیات دی او د دې محصولاتو زیاته برخه بهرته لیږي.

په اروپا کې د کرنې او مالدارۍ فعالیتونه



(الف)



(ب)



(ج)

په اروپا کې غوره کرنیزې برخې دادي:

۱- د مدیترانې د سمندرګې شاوخوا سیمې
۲ - د لویدیځې اروپا برخې
۳- د ختیځې اروپا برخې

د اروپا په جنوب کې مدیترانه یي اقلیم د دې سبب شوی چې په دې سیمه کې غلو او دانو، لکه غنمو، جوارو، اوربشو، وریجو او صنعتي نباتاتو، همدارنګه میوو، لکه بادامو، لیمو، زیتونو او انارو کرلو ته زمینه برابره شي اوپه خړ ځایونو کې یې د حیواناتو لکه وزو او پسونو روزنه ترسره کیږي.

لویدیځه اروپا طبیعي حاصل خیزه ځمکې لري، چې د کرنې ترڅنګ په کې د حیواناتو روزنې هم ښه پرمختیا کړیده. غوره کرنیزه محصولات یې، غنم، اوربشې، جوار، چغندر او کچالو دي. د بلجیم، هالنډ، جرمني او ډنمارک هیوادونو حیواني فارمونه زیاته اندازه لبنیات، لکه شیدې، کوچ او پنیر تولیدوي او له غوره صادراتي توکو څخه یې شمیرل کیږي. ختیځه اروپا هم طبیعي حاصل خیزې ځمکې لري، او ډیر غوره محصولات یې غنم، اوربشې، جوار او کتان دي. د دې ځمکو زیاته برخه په روسیه کې پرته ده او د غرونو لمنو د حیواناتو د روزنې لپاره ښې لارې چارې برابرې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه هم د اروپایانو لپاره د خوراکي توکو د تولید یوه سرچینه شمیرل کیږي، او د کبانو د ښکار صنعت پکې ښه پرمختګ کړی دی. د کبانو نیول د اروپایانو مهمه بوختیا ده. ناروې او ایسلینډ هغه هیوادونه دي چې د هغو اقتصاد د کبانو پر صنعت ولاړ دی، اوپه دې برخه کې په نړۍ کې لومړی مقام لري.



د اروپا اقتصادي مصوره نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اروپاکې د کب نيونې شغل

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په درېو ډلو وويشل شي، د لاندې موضوعاتو په هکله دې بحث وکړي او پایلې دې يې ټولګيوالو ته وړاندې کړي:

۱_ د مديترانې د شاوخوا کرنيزې برخې
۲_ د لويديځې اروپا کرنيزې برخې
۳_ د اروپا ختيځې کرنيزې برخې

## پوښتنې

۱_ د درېو اروپايي هيوادونو نومونه واخلئ چې د صنعتي توکو صادروونکي دي.
۲_ د اروپا کرنه ولې پرمختللې ده؟
۳_ د اروپا د کرنيزو برخو نومونه واخلئ؟
٤_ کوم اروپايي هيوادونه په نړۍ کې د کب نيولو په صنعت کې لومړی مقام لري؟
٥_ اروپايان د خپلو صنايعو د دوام لپاره کومو منابعو ته اړتيا لري.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د يوه اروپايي صنعتي هيواد په هکله، چې پرمختللی اقتصاد لري يو مطلب برابر او د جغرافيې په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

# د اروپا د کانونو او صنایعو په هکله څه پوهیږئ؟



په شمال سمندرګي کې د نفتو راايستنې عمليه

ولې اروپا د صنعتي اومو توکو واردوونکې ده؟

**الف- کانونه:**


د اروپا د ځمکې لاندې زیرمې دومره شتمنې نه دي، او دا حالت د اروپايي هیوادونو له خوا د دریمې نړۍ د هیوادونو د استعمار او ښکیلاک یو عامل و. اروپايي هیوادونو پخوا د خپلو اړتیاوو د لرې کولو لپاره د نورو لویو وچو مستعمره کولو ته مخه کوله، او همدارنګه د اروپا د لویې وچې پرمختیا د نورو هیوادونو، له هغې ډلې د آسیايي او افریقايي هیوادونو د زیرمو د لوټولو څخه پرته ناشونې وه.

نفت د اروپا په ځینو برخو کې شته دي، خو د شمال سمندرګي د نفتي زیرمو د کشف څخه دمخه یې اندازه ډیره لږه وه، چې د صنایعو په پراختیا اویه ځانګړې ډول د نقلیه وسیلو څخه په ډیرې ګټې اخیستنې سره نشي کولای د دې هیوادونو اړتیاوې پوره کړي. د لویدیځې اروپا د هیوادونو ډیره پاملرنه د شمال سمندرګي د نفت او ګاز زیرموته ده. چې اوس د انګلستان او د سیمې د ځینو نورو هیوادونو اړتیاوې تر یوه حده پوره کوي. اروپا د اوسپنې او ډبرو سکرو د کانونو له پلوه شتمنه ده او د انګلستان، روسیې، فرانسې، بلجیم، المان او پولینډ هیوادونه د نوموړو کانونو غوره تولیدوونکي دي.اوسپنه د سویډن له شمالي برخې څخه د بیړیو په وسیله د اروپا صنعتي سیموته وړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- صنایع:

د اروپا د صنایعو په هکله څه پوهیږئ؟



د ایټالیا د پولادو صنایع

### ۱- لاسي صنایع

له صنعتي انقلاب څخه د مخه د اروپا صنایع لاسي او کارګاهي وي چې کولای شو په ایټالیې کې د ښیښې جوړولو، په اسپانیې کې د چاقوګانو او تورو جوړولو، په سویس کې د ساعت جوړولو، په هالنډ کې د چیني لوښو جوړولو او په ایرلینډ کې د کتاني ټوکرانو د اوبدلو یادونه وکړو.

### ۲- ماشیني صنایع

اروپا د ډېرو سکرو د زیرمو او د ښه حمل او نقل په درلودلو سره په نړۍ کې لویه صنعتي سیمه ده. د اروپا درنې صنایع او لویې صنعتي کارخانې د کانونو ترڅنګ جوړې شوي دي. همدارنګه د اروپا صنعتي لوي ښارونه او بندرونه هم د سمندرونو او سیندونو په غاړو منځته راغلي دي، ځکه د بندرونو له لیارې د اومو موادو او تولیدي توکو وړل او راوړل ډېر ارزانه سرته رسیږي. د اروپا له مهمو بندرونو څخه یو هم د امستردام د بیړیو چلولو د کانال په غاړه د شمال سمندرګي په ساحل کې د روتردام په نوم بندر دی. او د اروپا بل صنعتي لوي بندر د ایټالیا په هیواد کې د جینوا بندر دی.

د اروپا مهم صنایع د فلزاتو ویلې کول، الکترونیکي سامان آلات د ماشیني وسایلو تولید، بیړۍ جوړول، موټر جوړول او داسې نوري دي.

د سویډن د کاغذ جوړونې صنعت



## ج- توریزم:

د اروپا په اقتصاد کې د توریزم صنعت هم د ارزښت وړدی. په اروپا کې توریزم د ډېرو تاریخي او کلتوري مرکزونو، لکه موزیمونو، کلیساوو، پوهنتونونو او د اروپایي هیوادونو د طبیعي ښوسیمو د شته والي له امله له یوه هیواد څخه بل هیواد ته د سفرونو آسانتیاوو په اروپا کې سیاحت او ګرځندوی ته وده ورکړېده.


(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروپا جنوبي غاړې د مديترانې د سمندرگي ترڅنگ چې د لمريزې اروپا په نوم شهرت لري. د اروپا د نورو سيمو وگړي ځان ته رابولي. د الپ غرونه د غروختونکو او د ژمنيو لوبو لپاره له ليرې او نږدې هيوادونو څخه زيات مينه وال لري. د اوبو سپورتونه، په ځينو اروپايي هيوادونوکې د جشنونو مراسم،قصرونه، تاريخي او د معمارۍ هنري آثار د اروپا د توريزم نورې ساحې شميرل کيږي.

د يادوني وړ ده چې د اروپا زياتره وگړي، په ځانگړې ډول پرمختللي هيوادونه د سوداگرۍ، بانکدارۍ او داسې نورو کارونو په خدمتونو بوخت دي، او د هغو فيصدي د کرنې او صنايعو په برخه کې لږه ده، چې داپه خپله په اروپا کې د اقتصاد د زيات پرمختگ څرگندوی ده.

د فرانسې د ايفل د برج تصوير




(c) ketabton.com: The Digital Library

د اروپا توریستي ځایونه



الف: د تایمز د سیند په غاړه د بیګ بن د ساعت برج



ب: د الپ په غرو کې سپورتي لوبې

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي او هره ډله دې په لاندې مطلبونو بحث او خبرې اترې وکړي، او د بحث پایله دې ټولګیوالو ته ووایي.

الف: د اروپا کانونه

ب : د اروپا صنایع

ج : د اروپا توریزم

### پوښتنې

۱ـ د اروپا د سپکو یا لاسي صنایعو تولیدات کوم دي؟ نومونه یې وواياست؟

۲ـ د اروپا صنعتي مرکزونه زیاتره چیرې جوړ شوي دي؟ او ولې؟

۳ـ د اروپا درنې صنایع کومې دي؟ لیست یې کړئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د اروپا له بې لیکنې نقشه رسم یا کاپي کړئ او د اروپا د مهمو صنعتي هیوادونو نومونه په ټاکلو ځایونو کې ولیکئ، او د جغرافیې په راتلونکي لوست کې یې ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورلسم لوست

# ۱ - ۲ ، د اروپا د لويې وچې د ترانسپورت په هكله څه پوهېږئ؟



د اروپا د چټکو کربنو شبکه

پخوا خلکو د مسافرینو او مالونو د وړلو او راوړلو لپاره د ترانسپورت له کوم ډول څخه ګټه اخيستله؟

## ترانسپورت Transports:

له يوځای څخه بل ځای ته د سوداګرۍ د مالونو او انسانانو له وړلو او راوړلو څخه عبارت دی، چې دا عمل د ريل، موټر، بيړۍ، الوتکې او پايپ لين په وسيله ترسره کيږي.
وړل او راوړل (حمل و نقل) په بيلابيلو لارو چارو سرته رسيږي چې په لنډ ډول يې مطالعه کوو.

### الف- سړک يا لويه لار:



په اروپا کې د ښو سړکونو او لويولارو جوړول په لومړي پړاو کې د نظامي او سوداګريزو اړتياوو د پوره کولو لپاره منځته راغلل. د روم امپراتورۍ خپلو لښکرو د چټک حرکت او ليږدوني لپاره د سړکونو لومړني جوړوونکې وه. ناپليون او هيټلر هم د همدغې موخې لپاره سړکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړل. په ورستیو کلونو کې د زیاتو موټرونو تولید هم د سړکونو د جوړونې سبب شو. اوس کولای شو د هالنډ په شمال کې له امستردام څخه تر جنوب د ایټالیې پورې د لویو نښلوونکو سړکونو له لیارې لاړشو. له غرنیو سیمو څخه د تیریدو لپاره تونلونه جوړ شوي دي، چې ډیر مهم تونل یې د مونټ بلان (Month Blaine Tuneles) په نوم دی، چې ۱۲ کیلومتره اوږد والی لري او فرانسه او ایټالیه سره نښلوي. د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د ګرندیو موټرو شمیر مخ په زیاتیدو دی لکه، د بیلګې په توګه په سویډن کې د هرو څلورو تنو لپاره یو موټر شته دی، خو د ختیځې اروپا په هیوادونو کې د ګرندیو موټرو شمیر ډیر لږ دی. د ډنمارک او هالنډ په هیوادونو کې د بایسکلونو لپاره هم ځانګړې لارې جوړې شوې دي.

## ب- د اوسپنې لارې:

د اوسپنو د لارو (د ریل کرښې) جوړونه له اروپا څخه پیل شوې ده. په ۱۸۰۴ م کال کې لومړنی د بړاس لکوموتیف د انګلستان په ویلز کې د موټرونو او مسافرینو د وړلو لپاره پکار واچول شو.

لومړنۍ د اوسپنو لاره په ۱۸۲۵ م کال کې د ستوکټن (Stockton) او درلینګتون (Darlington) د ښارونو ترمنځ د عمومي وړلو او راوړلو لپاره جوړه شوه او بیا وروو د اوسپنې کرښې په اروپا کې پراختیا وموندله. اوس دا لویه وچه له نړۍ د ګڼه ګوڼې څخه ډکې لارې لري. د اروپا د چټکو ریلونو کرښې د ډیرو چټکو او هوسا ریلونو څخه ګټه اخلي. دا کرښې د اروپا لوی ښارونه سره نښلوي. نن ورځ د اوسپنو لارو د اروپا په دننه کې د مسافرینو او مالونو په وړلو او راوړلو کې مهم رول لوبوي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې تنظیم شي، او هره ډله دې د لویې لارې یا سړک او د ریل کرښو په هکله له یوبل سره سلامشوره وکړي او پایلې دې د ډلې د استازي په وسیله خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱ـ ترانسپورت تعریف کړئ؟
۲ـ ولې رومیانو د سړکونو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه درلوده؟
۳ـ لومړی ځل ریل چیرې او د کومې موخې لپاره په کار واچول شو؟
٤ـ د اوسپنو لومړنۍ کرښې د اروپاکوم ښارونه سره نښلولي وو؟
٥ـ د اوسپنو له کرښو څخه زیاتره د کومو موخو لپاره ګټه اخیستل کیږي؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د اروپا د لویې وچې په اقتصادي پرمختګ کې داوسپنو د کرښو د رول په هکله مطلب ولیکئ او خپلو ټولګیوالوته یې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست
# هوايي کرښې:


د اروپا هوايي ډګر

آيا پوهيږئ چې د انرژۍ له پلوه په نړۍ کې د ډير لګښت لرونکی ترانسپورټ کوم دی؟

په ۱۸ م پيړۍ کې په فرانسه کې هواته د لومړني بالون په الوتلو سره د هوايي چلند تاريخ پيل شو. په ۱۹۱۹ م کال کې د سوداګرۍ لومړنۍ هوايي کرښه په هالنډ کې منځته راغله. هوايي کرښې د اروپا لوي ښارونه او بهرني هيوادونه سره نښلوي او د مسافرينو او دهغوی د سوداګرۍ شيانو د وړلو لپاره چې درانه نه وي او ارزښت يې زيات وي، ګټه اخيستل کيږي.

## د اوبو لارې:

آيا پوهيږئ چې په نړۍ کې ډيره ارزانه ترانسپورټي لار کومه ده؟
د لرغونو زمانو څخه د اوبو لارې د شيانو او مسافرينو په وړلو او راوړلو کې ارزښت لري. د اروپا دانيوب او راين سيندونو د تاريخ په اوږدو کې په وړلو او راوړلو کې غوره رول لوبولی دی. د راين له سيند څخه رومیانو ګټه اخيستله او د سيندونو خوله (مصب) به يې کنټرولوله. د راين او دانيوب له سيندونو څخه په نړيواله توګه ګټه اخيستل کيږي. د دانيوب سيند ډير اوږد او زيات هيوادونه سره نښلوي. د اروپا د کرنيزو هيوادونو څخه تيريږي او په توره بحيره کې تويږي. د راين سيند د اروپا په صنعتي سيمو کې زيات ارزښت لري. د هالنډ د روتردام لوی بندر د نړۍ له بل هر سيندي او سمندري بندر څخه زيات مالونه ليږدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آلمان د برمن په بندر کې د مالونو وړلو او راوړلو فعالیت

د اروپا زياتره سيندونه، لکه د آلمان الب او اودر، د فرانسې د سن او لوار د سيندونو په څير د کانالونو په وسيله سره نښلول شوي دي. دا سيندونه په اروپا کې د اوسپنې دلارې له پراختيا د مخه نښلول شويدي. د انگلستان په هيوادکې هم کانالونه شته چې اوس خپل پخوانی ارزښت نلري. اوس کولای شو د هم دې کانالونو اوسيندونو په وسيله له شمال سمندرگي څخه د مديترانې د سمندرگي په غاړه د مارسې بندر ته سفر وکړو. د اروپا سواحل چې ځينې د بيړيو چلولو لپاره برابر دي د لويو سوداگريزو بندرونو د منځته راتگ سبب شوي او ډېره ارزانه ترانسپورتي لاره گڼل کيږي. د اروپا څه ناڅه ټول ښارونه له مادريد څخه پرته نور ټول د سيندونو، سمندرگيو او د اتلانتيک د سمندر په غاړو جوړ شوي دي. همدارنگه د پايپ لين له حمل و نقل څخه د نفتو، گازو او اوبو د وړلو لپاره په پراخه اندازه گټه اخيستل کيږي.

### د ټولگي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په ډلو کې وويشل شي او هره ډله دې دلاندې پوښتنو په هکله بحث وکړي او دهغو پايلې دې د ډلې استازي ټولگي والوته وړاندې کړي.

۱ــ له هوايي ترانسپورت څخه زياتره دکومو موخو لپاره گټه اخيستل کيږي او ولې؟

۲ــ د اوبو ترانسپورت په کوم دليل د نړۍ ډېره ارزانه ترانسپورتي لار ده؟

۳ــ له پايپ لين څخه زياتره دکومو اهدافو لپاره گټه اخيستل کيږي؟

### پوښتنې

۱ــ د نړۍ د سوداگرۍ لومړنۍ هوايي کرښې په کوم هيوادکې په فعاليت پيل وکړ؟

۲ــ له هوايي کرښو څخه زياتره دکومو شيانو د وړلو لپاره گټه اخيستل کيږي؟

۳ــ ډير لرغونی ترانسپورت کوم يو دی؟

٤ــ د اروپا د بيړۍ چلولو ډير اوږد سيند کوم يو دی؟

٥ــ د اروپا د سوداگرۍ ډير لوی سيند او سمندري بندر کوم دی؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

د اروپا د اوبو د لارو د پراخوالي د لاملونو تر سرليک لاندې يو مطلب وليکئ او ټولگيوالوته يې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اروپا د ځېرکي لنډيز

ـ اروپا د نړۍ يوه کوچنۍ لويه وچه ده، چې د نړۍ په شمالي معتدله سيمه کې پرته ده.

ـ د اروپا غرونه په دوه برخو وېشل شوي، چې زاړه او ريژيدلي غرونه يې په شمال کې او ځوان او لوړ غرونه يې په جنوب کې پراته دي.

ـ د اروپا لويه وچه ډېر شمير سيندونه لري او زياتره يې د بېړيو چلولو وړ دي.

ـ د اروپا د لوېې وچې د ټولو جهيلونو اوبه تقريبا خوږې او د سيندونو سرچينې جوړوي.

ـ د اروپا د لوېې وچې لويې او مهم سمندرگی مديترانه دی، چې د دريو لويو وچو آسيا، اروپا او افريقا ترمنځ پروت دی.

ـ د اروپايي هيوادونو د صنعتي پرمختگ يو علت هم د بېړيو چلولو د زياتو خليجونو شتوالی او سمندري موقعيت دی.

ـ اروپا يوازينۍ لويه وچه ده چې په هغې کې وچ او تاوده بيابانونه او دښتې نشته.

ـ اروپا له سياسي پلوه د ٤٤ هيوادونو څخه جوړه شوې، او د ځينو هيوادونو ترمنځ سياسي، فرهنگي، اقتصادي او نورې گډې اړيکې د يوه قرار داد پر بنسټ، چې د اروپا اتحاديه يې بولي، ترسره کيږي.

ـ د اروپا لويه وچه د لږ پراخوالي سره سره د نړۍ گڼ ميشته لويه وچه يا براعظم دی.

ـ د اروپا د وگړو زياتره برخه سپين پوټکي تشکيلوي.

ـ د اروپا د خلکو ژبه د ژبنۍ ريښې پربنسټ په دريو ډلو: لاتين، جرمني او سلاو وېشل شويده.

ـ د اروپا زياتره وگړي د عيسوي دين پيروان دي چې په دريو مذهبونو کاتوليک، پروتستانت او ارتودوکس وېشل شوي دي.

ـ اروپا د نړۍ له لويو صنعتي سيمو څخه يوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ داروپا لویه وچه د ځمکې لاندې زیرمو، لکه د ډبروسکرو او نفتو (په شمال سمندرګي کې) لرونکې ده.

ـ د اروپا زیاتره صنایع، صنعتي لوی ښارونه او بندرونه د سیندونو او سمندرونو پر غاړو منځته راغلي دي.

ـ په اروپا کې د توریزم صنعت، د طبیعي، تاریخي،فرهنګي او نورو ساحو د شتوالي له امله ښه پرمختللی دی.

ـ د اروپا لویه وچه د نړۍ له ګڼې ګوڼې ډکې د اوسپنو کرښې لري.

ـ هوایي کرښې د انرژۍ د لګښت له پلوه د زیات لګښت لرونکي ترانسپورت یو ډول دی.

ـ د اوبو لارې په اروپا کې ډیرې ارزانه ترانسپورتي لارې ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورمه ګڼه جدول: د اورپايي هېوادونو جغرافيايي ځانګړتياوي (د مطالعې لپاره)

| ګڼه | هېوادونه | عمومیات | | | | په ۲۰۰۱ م. کال کې په مختلفو برخوکې د نفوسو د بوختيا فيصدي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلازمېنه | پرخوالی په کيلو متر مربع سره | په ۲۰۰٦ م کال کې د نفوسو شمېر | په یو کیلو متر مربع کې د نفوسو شمېر | کرنه | صنعت | خدمتونه |
| ۱ | البانيا | تيرانا | ۲۸,۷۴۸ | ۳,۵۸۱,۶۵۵ | ۱۲۵ | ۵۴,۷ | ۲۳,۱ | ۲۲,۲ |
| ۲ | بلجيم | بروکسل | ۳۳,۰۰۰ | ۱۰,۳۷۹,۰۶۷ | ۳۱۵ | ۲,۶ | ۲۷,۲ | ۷۰,۳ |
| ۳ | بوسني- هرزګوين | سارايوو | ۵۱,۱۲۹ | ۴,۴۹۸,۹۷۶ | ۸۸ | ۱۱,۷ | ۴۷,۵ | ۴۰,۸ |
| ۴ | بلغاريا | صوفيا | ۱۱۰,۹۱۲ | ۷,۳۸۵,۳۶۷ | ۶۷ | ۲۵,۷ | ۳۰,۸ | ۴۳,۵ |
| ۵ | دنمارك | کوپن هاګن | ۴۳,۰۹۴ | ۵,۴۵۰,۶۶۱ | ۱۲۶ | ۳,۶ | ۲۶,۸ | ۶۹,۶ |
| ۶ | آلمان | برلين | ۳۵۷,۰۲۲ | ۸۲,۴۲۲,۲۹۹ | ۲۳۱ | ۲,۶ | ۳۴,۶ | ۶۲,۹ |
| ۷ | استوني | تالين | ۴۵,۱۰۰ | ۱,۳۲۴,۳۳۳ | ۲۹ | ۹,۰ | ۳۱,۷ | ۵۹,۳ |
| ۸ | فنلند | هلسنکي | ۳۳۸,۱۴۵ | ۵,۲۳۱,۳۷۲ | ۱۵ | ۶,۱ | ۲۷,۵ | ۶۶,۴ |
| ۹ | فرانسه | پاريس | ۵۵۰,۱۰۰ | ۶۰,۸۷۶,۱۳۶ | ۱۱۱ | ۱,۵ | ۲۵,۱ | ۷۳,۴ |
| ۱۰ | يونان | اتن | ۱۳۱,۹۹۰ | ۱۰,۶۸۸,۰۵۸ | ۸۱ | ۱۷,۵ | ۲۲,۵ | ۵۹,۹ |
| ۱۱ | هنګري | بوداپست | ۹۳,۰۳۲ | ۹,۹۸۱,۳۳۴ | ۱۰۷ | ۶,۸ | ۳۴,۴ | ۵۸,۸ |
| ۱۲ | ايرلند | دوبلين | ۷۰,۲۸۴ | ۴,۰۶۲,۲۳۵ | ۵۸ | ۸,۵ | ۳۰,۰ | ۶۱,۵ |
| ۱۳ | ايسلند | ريکجاويك | ۱۰۳,۰۰۰ | ۲۹۹,۳۸۸ | ۳ | ۸,۶ | ۲۵,۲ | ۶۶,۲ |
| ۱۴ | ايتاليا | روم | ۳۰۱,۲۶۸ | ۵۸,۱۳۳,۵۰۹ | ۱۹۳ | ۵,۶ | ۳۲,۱ | ۶۲,۳ |
| ۱۵ | کرواتي | زاګرب | ۵۶,۵۳۸ | ۴,۴۹۴,۷۴۹ | ۷۹ | ۱۶,۴ | ۳۰,۹ | ۵۲,۶ |
| ۱۶ | لاتويا | ريګا | ۶۴,۶۰۰ | ۲,۲۷۴,۷۳۵ | ۳۵ | ۱۵,۵ | ۲۶,۴ | ۵۸,۱ |
| ۱۷ | ليتواني | ويلنيوس | ۶۵,۲۰۰ | ۳,۵۸۵,۹۰۶ | ۵۵ | ۲۰,۲ | ۳۶,۴ | ۴۳,۵ |
| ۱۸ | لوکزامبورګ | لوکزامبورګ | ۲,۵۸۶ | ۴۷۴,۴۱۳ | ۱۸۳ | ۳,۰ | ۲۸,۰ | ۶۹ |
| ۱۹ | مقدونيه | سکوپيه | ۲۵,۷۱۳ | ۲,۰۵۰,۵۵۴ | ۸۰ | ۲۱,۸ | ۴۰,۴ | ۳۷,۸ |
| ۲۰ | مالتا | واليتا | ۳۱۶ | ۴۰۰,۲۱۴ | ۱,۲۶۷ | ۲,۰ | ۲۶,۰ | ۷۲,۰ |
| ۲۱ | مولداوي | کيشي نف | ۳۳,۷۰۰ | ۴,۴۶۶,۷۰۶ | ۱۳۳ | ۴۵,۷ | ۱۴,۶ | ۳۹,۷ |
| ۲۲ | مونتينګرو | پدګوريکا | ۱۳,۸۱۲ | ۶۳۰,۵۴۸ | ۴۶ | ۲,۰ | ۳۰,۰ | ۶۸,۰ |
| ۲۳ | هالند | امستردام | ۴۱,۵۲۶ | ۱۶,۴۹۱,۴۶۱ | ۳۹۷ | ۳,۲ | ۲۲,۰ | ۷۴,۸ |
| ۲۴ | ناروي | اوسلو | ۳۲۳,۸۷۷ | ۴,۶۱۰,۸۲۰ | ۱۴ | ۴,۱ | ۲۱,۸ | ۷۴,۰ |

| گڼه | هېوادونه | عمومیات | | | | په ۲۰۰۱ م. کال کې په مختلفو برخو کې د نفوسو د بوختیا فیصدي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلازمېنه | پرخوالی په کیلو متر مربع سره | په ۲۰۰٦ م کال کې د نفوسو شمېر | په یو کیلو متر مربع کې د نفوسو تراکم | کرنه | صنعت | خدمتونه |
| ۲۵ | اوکراین | کیف | ۶۰۳,۷۰۰ | ۴۶,۷۱۰,۸۱۶ | ۷۷ | ۲۶,۱ | ۲۷,۴ | ۴۶,۵ |
| ۲۶ | اتریش | ویانا | ۸۳,۸۵۹ | ۸,۱۹۲,۸۱۸ | ۹۸ | ۶,۴ | ۳۱,۳ | ۶۲,۳ |
| ۲۷ | پولند | وارسا | ۳۲۳,۲۵۰ | ۳۸,۵۳۶,۸۶۹ | ۱۱۹ | ۱۹,۰ | ۳۱,۷ | ۴۹,۳ |
| ۲۸ | پرتگال | لزبون | ۹۱,۹۸۲ | ۱۰,۶۰۵,۸۱۷ | ۱۱۵ | ۱۲,۳ | ۳۵,۲ | ۵۲,۵ |
| ۲۹ | رومانیه | بوخارست | ۲۳۸,۳۹۱ | ۲۲,۳۰۳,۵۵۲ | ۹۴ | ۴۱,۷ | ۲۸,۱ | ۳۰,۲ |
| ۳۰ | روسیه | مسکو | ۱۷,۰۷۵,۴۰۰ | ۱۴۲,۸۹۳,۵۴۰ | ۸ | ۱۱,۶ | ۲۹,۶ | ۵۸,۸ |
| ۳۱ | صربیا | بلگراد | ۸۸,۳۶۱ | ۹,۳۹۴,۴۱۱ | ۱۰۶ | ۲۹,۷ | ۳۲,۹ | ۳۷,۴ |
| ۳۲ | سلووینیا | لیوبلیانا | ۲۰,۲۵۶ | ۲,۰۱۰,۳۴۷ | ۹۹ | ۱۱,۰ | ۳۷,۶ | ۵۱,۴ |
| ۳۳ | سلواک | براتیسلاوا | ۴۹,۰۱۲ | ۵,۴۳۹,۴۴۸ | ۱۱۱ | ۷,۶ | ۳۸,۰ | ۵۴,۴ |
| ۳۴ | اسپانیا | مادرید | ۵۰۵,۹۹۲ | ۴۰,۳۹۷,۸۴۲ | ۸۰ | ۶,۹ | ۳۰,۹ | ۶۲,۲ |
| ۳۵ | چک | پراگ | ۷۸,۸۶۴ | ۱۰,۲۳۵,۴۵۵ | ۱۳۰ | ۵,۱ | ۳۹,۱ | ۵۵,۹ |
| ۳۶ | بریتانیا | لندن | ۲۴۴,۱۰۱ | ۶۰,۶۰۹,۱۵۳ | ۲۴۸ | ۱,۶ | ۲۵,۴ | ۷۳,۱ |
| ۳۷ | سپینه روسیه | مینسک | ۲۰۷,۶۰۰ | ۱۰,۲۹۳,۰۱۱ | ۵۰ | ۱۹,۷ | ۴۰,۶ | ۳۹,۷ |
| ۳۸ | سویدن | ستکهلم | ۴۴۹,۹۶۴ | ۹,۰۱۶,۵۹۶ | ۲۰ | ۲,۶ | ۲۵,۵ | ۷۱,۹ |
| ۳۹ | سویس | برن | ۴۱,۲۸۴ | ۷,۵۲۳,۹۳۴ | ۱۸۲ | ۴,۶ | ۲۶,۷ | ۶۸,۷ |
| ۴۰ | سان مرینو | سان مرینو | ۶۱ | ۳۰۲۰۰ | ۴۶۷,۲ | | | |
| ۴۱ | اندورا | اندورا لاولا | ۴۵۳ | ۶۹۸۶۵ | ۱۵۴ | | | |
| ۴۲ | موناکو | موناکو | ۱,۹۵ | ۳۲۸۰۰ | ۱۶۱,۳ | | | |
| ۴۳ | لختن شبتن | وادوز | ۱۶۰ | ۳۵۱۰۰ | ۲۱۲,۹ | | | |
| ۴۴ | واتیکان | واتیکان سیتي | ۰,۴۴ | ۹۲۰ | ۲۰۴ | | | |
| ۴۵ | آذربایجان | باکو | ۸۶۶۰۰ | ۸۴۷۴۰۰ | ۹۴,۵ | | | |
| ۴۶ | ارمنستان | ایروان | ۲۹۸۰۰ | ۲۹۷۶۰۰۰ | ۱۱۱,۹ | | | |
| ۴۷ | گرجستان | تفلیس | ۶۹۷۰۰ | ۴۴۷۴۰۰۰ | ۷۱,۶ | | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## د امريکا براعظم

په دې څپرکي کې لولو:
١، ٢ موقعيت
د امريکا لويه وچه
الف ـ د امريکا د لويې وچې څلورخواوې او ويش
ب ـ د امريکا کشف
٢، ٢ـ طبيعي جغرافيه
الف ـ غرونه
ب ـ سيندونه
ج ـ جهيلونه
د ـ سمندرگي (بحيرې)
هـ ـ خليجونه
و ـ اقليم
٣، ٢ ـ سياسي جغرافيه
٤، ٢ ـ بشري جغرافيه
٥، ٢ ـ اقتصادي جغرافيه
٦، ٢ ـ مواصلاتي جغرافيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دويم څپرکي موخې

**ګرانو زده کوونکو! د دې څپرکي له لاندنيو علمي موخو (هدفونو) سره آشنا شئ:**

ـ د امريکا لويه وچه له جغرافيايي موقعيت سره.

ـ د امريکا د لويه وچه د مهمو لوړو، ژورو (غرونو، سيندونو، سمندرګيو، جهيلونو، خليجونو) سره.

ـ د امريکا د لويه وچه له اقليم سره.

ـ د امريکا د لويه وچه له  سياسي جغرافيې  سره.

ـ د امريکا د لويه وچه له اقتصادي جغرافيې سره (کرنه، صنعت، سوداګرى او حمل و نقل).

**ـ زده کوونکي دې د دې څپرکي په لوستلو سره لاندې مهارتونه حاصل کړي:**

ـ د نقشې پر مخ د امريکا د لويې وچې موقعيت معلومول.

ـ د نقشې پر مخ د مهمو غرونو، سيندونو، سمندرګيو او جهيلونو معلومول.


ـ د نقشې پر مخ د امريکا د لويې وچې د هيوادونو معلومول.

ـ د انسانانو په ژوندکې د حمل و نقل د ارزښت نتيجې توضيح کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

# د امریکا د لویې وچې د جغرافیایي موقعیت په هکله څه پوهیږئ؟




د امریکا لویه وچه د نړۍ په نقشه کې

د امریکا له لویې وچې څخه کوم سمندرونه چاپیر شوي دي؟

## ۲ - ۱ موقعیت:

الف: ځلور خواوې: د امریکا لویه وچه د ۳۰ درجو او ۱۷۰ درجو لویدیځو طول البلدونو او د ۸٤ درجو شمالي عرض البلد او د ۵۵ درجو جنوبي عرض البلد ترمنځ موقعیت لري.

دا لويه وچه د شمال لخوا په شمالي کنګل سمندر، د جنوب لخوا د Derik دریک په ابناء (چې د انترکتیکا او د امریکا ترمنځ بیلوونکې پوله ده: په ختیځ کې د اطلس په سمندر چې د اروپا او افریقا لویې وچې یې د امریکا د لویې وچې څخه بیلې کړي او په لویدیځ کې د آرام سمندر (بحرالکاهل) او د بیرنګ د آبناء سره چې د ۸۵ کیلومترو په واټن الاسکا د روسیې څخه بیلوي نښتې ده.

پرخوالی (مساحت) یې ۴۲٫۳ میلیون کیلومتر مربع ته رسیږي.

د امریکا د لویې وچې ډیره لیرې شمالي نقطه شمالي قطب او جنوبي ډیره لیرې نقطه یې د کې هارن Cape- Horn دماغه ده. اوږدوالی یې له شمال څخه جنوب ته ۱۵۰۰۰ کیلومتره دی. او سوریې له ختیځ څخه لویدیځ ته په مختلفو برخوکې سره توپیر لري.

### د امریکا د لویې وچې ویش:

د امریکا لویه وچه له شمال څخه جنوب لورته په دریو برخو ویشل شویده چې د شمالي امریکا، منځنۍ امریکا اوجنوبي امریکا څخه عبارت دي. د امریکا لویه وچه له شمال څخه جنوب لورته اوږده پرته ده. په شمالي امریکا کې دوه هیوادونه کانادا او متحده ایالتونه موقعیت لری، چې د شمالي قطب څخه د مکسیکو ترهیواد پورې غزیدلې ده. منځنۍ امریکا د

شمالي امریکا او جنوبي امریکا ترمنځ پرته ده، منځنۍ امریکا د شمال لخوا متحده ایالاتو سره او په جنوب کې د جنوبي امریکا سره ګډه پوله لري او د پانامې کانال د کارابین سمندرګی د آرام سمندرسره نښلوي او منځنۍ امریکا د جنوبي امریکا څخه بیلوي.
جنوبي امریکا په جنوبي نیمه کره کې د شمالي عرض البلد د ۱۲ درجو څخه د جنوبي عرض البلد تر ۵۵ درجو پورې موقعیت لري. اوپه شمالي نیمه کره کې یې ډېره لږه برخه پرته ده. جنوبي امریکا د منځنۍ امریکا په جنوب کې د مثلث په بڼه موقعیت لري، چې راس یې د دریک (Derik) ابنا په لوري او قاعده یې د کارابین په سمندرګي او په منځنۍ امریکا کې موقعیت لري.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د ورکړ شوې نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره دې د امریکا د لویې وچې موقعیت د طول البلدونو او عرض البلدونو پر بنسټ وټاکي او تمرین کړي.

## پوښتنې

لاندې جملې بشپړې کړئ

۱ـ د امریکا لویه وچه .............. کیلومتره مربع پراخوالی لري؟

۲ـ د .............. ابناء جنوبي امریکا د انتارکتیکا د لویې وچې څخه بیلوي؟

۳ـ د امریکا د لویې وچې او د اسیا د لویې وچې ترمنځ ................ بیلوونکی حد تشکیلوي.

۴ـ د امریکا او اروپا د لویې وچې ترمنځ ............... بیلوونکی سرحد تشکیلوي.



د امریکا سیاسي نقشه

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د ورکړ شوې نقشې له مخې د شمالي، منځنۍ او جنوبي امریکا د هیوادونو نوموونه بیل بیل لیست کړئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې، په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولسم لوست

# ب- د امریکا د لویې وچې د کشف په هکله څه پوهیږئ؟



د کرستف کولمب انځور

آیا د امریکا د کشف کوونکي د نوم سره آشنایي لرئ؟

کرستف کولمب ایتالوي بیړۍ چلوونکي ته د ځمکې د کرویت په هکله د مسلمانانو د لیکنو پربنسټ په ۱٤۹۲ م کال کې د اسپانیې د پاچا لخوا دنده ورکړل شوه چې، د لویدیځ پرلور، هندوستان ته سفر وکړي او کومه شتمني چې هلته وه لاس ته راوړي. خو کولمب خپل سفر پیل کړ هغه ځای ته ورسید چې هغه یې د غرب الهند په نامه یاد کړ، او لومړنۍ سیمه چې هلته پلې شو هغه یې د سان سالوا دور (مقدس نجات ورکونکي) په نامه یاده کړه ( چې د بهاما د ټاپوګانو له ډلې څخه وه). کولمب فکر کاوه چې آسیا او هند ته رسیدلي دی او خپلو ملګروته یې هدایت ورکړ چې د ټاپوګانو په پلټنه پیل وکړي. کلمب درې ځلې نورهم د امریکا نوی وچې ته سفر وکړ.

د کلمب څخه وروسته بل بیړۍ چلوونکي د امریکو سپوچي په نوم د کولمبس لارې ته دوام ورکړ او د جنوبي عرض البلد تر ۵۲ درجو پورې د برازیل د هیواد غاړوته نږدې پرمخ ولاړ. دې بیړۍ چلوونکي د خپل سفر په هکله یوه مقاله ولیکله او هغه یې خپره کړه، وروسته بیا په ۱۵۰۲ م کې یوه جغرافیه یوه یو کتاب ولیکه او په هغه کې یې د امریکو سپو چې مقالې ته د خپل اثر په سریزه کې ځای ورکړ او چاپ یې کړ. په ۱۵۰۷ م کال کې نوموړی کتاب په لاتیني ژبه وژباړل شو، چې په سریزه کې یې یوه جغرافیه پوه وړاندیز وکړ چې د وچې دا ټوټه دې، د هغه د کشف کوونکي په نوم امریکا ونومول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړيو کې د امريکا نوم د استواد کرښې د جنوب برخې ته استعماليده، چې کولمبس هغه ځای ته سفر نه وکړی، خو وروسته يې شمالي برخه هم په برکې ونيوه او په جغرافيه کې لومړی ځل گردهارد مرکاتور په ۱۵۳۸ م کال کې په خپله مشهوره نقشه کې د امريکا نوم ټولې لويديځې نيمې کرې ته استعمال کړ. له هغه وخت څخه يې وروسته تر ننه پورې دا نوې لويه وچه د امريکو په نوم، د امريکا لويه وچه نومولې ده.



### د ټولگي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او لاندې پوښتنو ته دې ځواب ورکړي.

۱ـ کولمب ولې د هند د سفر لپاره د اروپا لويديځه لاره غوره کړه؟
۲ـ مسلمانو جغرافيه پوهانو د امريکا په کشف کولو کې څه رول درلود؟
۳ـ جغرافيه پوهانو ولې دا نوې لويه وچه د امريکا په نوم ونوموله؟

### پوښتنې

۱ـ امريکا ته د کرستف کولمب د سفر موخه څه وه؟
۲ـ د امريکو سپوچي په خپل سمندري سفر کې کوم ځای کشف کړ؟
۳ـ لومړی ځل کوم جغرافيه پوه نومورې نوې لويه وچه د امريکا په نوم ونوموله؟
٤ـ په لومړيو کې د امريکا کلمه د امريکا د لويې وچې کومې برخې ته استعماليده؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

د امريکو د سفر لوری د نقشې له مخې رسم کړئ، او څرگنده کړئ چې هغه کوم لوی کار ترسره کړی دی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# ۲، ۲ طبیعي جغرافیه



راکي غرونه

د راتلونکي مخ نقشه په غور وګورئ او وواياست چې غرونه د لويې وچې په کومه برخه کې موقعيت لري؟

الف ـ دامریکا د لويې وچې دغرونو په هکله څه پوهيږئ؟

۱ ـ پخواني ټيټ زاړه غرونه

د اپالاش غرونه (Appalachian)

دشمالي امريکا د متحده ايالتونو په ختيځه برخه کې ټيټ غرونه شته ، چې د جيولوژۍ په لومړۍ دورې پورې اړه لري، د وخت په تيريدلو سره يې لوړوالی لږ شوی اوپه اوسني وخت کې د ګردو لوړوڅوکو، څوړلرونکو لمنو او پراخو واديو لرونکي دي. دا غرونه د شمال له ختيځ څخه د جنوب لويديځ په لور د ۱۵۰۰ کيلومترو په اوږدوالي غزيدلي دي او لوړه څوکه يې بلک دام Black Dame ده چې ۲۰٤٤ متره لوړوالی لري.

۲ ــ لوړ او ځوان غرونه

د راکي Rocky يا روشوز غرونه:

د آرام سمندر د غاړې په اوږدوکې له شمال څخه جنوب ته غزيدلي دي او د جيولوژۍ په دريمې دورې پورې اړه لري. دا غرونه ځوان او ډير لوړ دي، چې په ځينو سيمو کې يې لوړوالی ۶۰۰۰ متروته هم رسيږي، لوړه څوکه يې مک کينلی Mickinley په الاسکاکې ۶۱۹۳ متره لوړوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. د نوموړي غره په شمالي او جنوبي برخو کې فعال او غلي شوي اور غورځوني (آتشفشان) شته دي چې درنې زلزلې هم په هغو کې ژر، ژر رامنځ ته کیږي. لکه چې دارنګه په ۱۹٦٤ م کال کې د شلمې پیړۍ لویه زلزله په الاسکا کې منځته راغله. د اپالاش او راکي غرونو د لړیو ترمنځ هوارې ځمکې او پراخې جلګې شته.

د شمالي امریکا د لویې وچې طبیعي نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انديز غرونه (Andes)

د انديز غرونه د دې سيمې د اصلي اوسيدونكو په ژبه د شاتو د غرونو معنا لري. د غرونو دا لړۍ په جنوبي امريكا كې د آرام سمندر د غاړې په اوږدوكې له شمال څخه د جنوب لورته ۸۰۰۰ كيلومترو په اوږدوالي غزيدلې ده او لوړه څوكه يې اكانكاگوا Aconcagua په ارجنتاين كې ۶۹۶۰ متره لوړه ده. د دې ځوانو غرونو د جوړښت په پروسه كې اورغورځونې، عمودي حركتونه او ورانوونكې زلزلې لاتر اوسه هم دوام لري. لكه چې دارنگه په ۱۹۶۰ م كال كې د انديز د غرونو په جنوبي برخه كې ډېره درنه زلزله وشوه چې د چيلي زلزلې په نامه يادېږي. د دې زلزلې په پايله كې غلي شوي اتشفشان هم په فعاليت پيل وكړ، د ساحلي وچې ځينې برخې تر اوبو لاندې شوې، د سمندر په ځينو برخو كې ټاپوگان د اوبو څخه بهر شول، او نوي ټاپوگان يې جوړ كړل.

د جنوبي امريكا د لوېې وچې طبيعي نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي، او په مشوره دې دوه لاندني تصويرونه په غور سره وګوري، د راکي د څوانو غرونو او د اپلاش د زړو غرونو ترمنځ ورته والی او توپيرونه دې په ګډه مشورې سره وليکي او ټولګي والوته دې يې وړاندې کړي.



راکي غرونه



د اپلاش غرونه

## پوښتنې

د سمو پوښتنو لپاره د (س) توری او د ناسمو پوښتنو لپاره د (ن) توری وليکئ.

۱ـ د اپلاش غرونه د جيولوجی د لومړي دوران د غرونو له ډلې څخه دی (    )

۲ـ د راکي د غرونو لړی د شمال ختيځ څخه د جنوب لويديځ لور ته پرته ده (    )

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱ـ د امريکا د لويې وچې ډېر لوړ غرونه ..................دي.

۲ـ د راکي د غرونو ډېره لوړه څوکه د ..........په نوم په ............ کې موقعيت لري.

۳ـ د انديز د غرونو ډېره لوړه څوکه د ............. په نوم په ..........کې موقعيت لري.




## له ټولګي څخه بهر فعاليت

د امريکا د ليکنې پرته نقشه رسم يا کاپي کړئ او د غرونو نومونه يې په ټاکلي ځای کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# ب- د امریکا د سیندونو په هکله څه پوهیږئ؟


د میسي سي پي سیند

د میسي سي پي سیند ولې په دې نوم نومول شوی دی؟

## د شمالي امریکا سیندونه

په شمالي امریکا کې له اوبو ډک سیندونه شته، چې له یوې خوا د بېړۍ چلولو او د مالونو په لېږدیدلو کې ګټور دي، او له بلې خوا یې د کرنې په برخه کې ډیرې آسانتیاوې رامنځته کړېدي. د شمالي امریکا د اتلانتیک د سمندر د حوزې ډېر لوی سیند د میسی سی پی (Mississippi) سیند دی چې د هندي بومي (اصلي) اوسیدونکو په ژبه د لوی سیند معنا لري. دا سیند د مینیسوتا (Minnesota) د ځنګلونو د ایتاسکا له جهیل څخه سرچینه اخلي، اوپه هوارو او پراخه دښتوکې جنوب لورته بهیږي، د بهیر په منځنۍ برخه کې ورسره له ښي خوا څخه ډیر لوی مرستیال د میسوری (Missouri) سیند یوځای کیږي. د میسوري سیند د هندي بومي (اصلي) اوسیدونکو په ژبه د خړو یا خټینو اوبو معنا لري.

د میسي سي پي د سیند اوږدوالی د میسوري د سیند له سرچینې څخه تر مصبه (خولې) د مکسیکو په خلیج کې (۶۴۲۰) کیلومتره دی، چې د اوږدوالي له پلوه د نیل او امازون څخه وروسته دی. د چپ اړخ لوی مرستیال یې د اوهایو (Ohio) سیند دی، چې د اپالاش له غرونو څخه سرچینه اخلي او زیاتې اوبه لري. د میسي سي پي سیند زیاتې شګې او خټې د ځان سره راوړي اوپه مصب (خوله) کې یې لویه دلتا جوړه کړې چې هرکال ۱۰۰ متره د مکسیکو د خلیج خواته مخکې ته ځي. دا سیند له خپلو ټولو مرستیالانو سره څه ناڅه ۲۰۰۰۰ کیلومتره د بېړۍ چلولو وړ دی او د کرنې په برخه کې ورڅخه هم ګټه اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د شمالي امریکا د سیندونو نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سنت لارنس سيند (St.Lawrence) پنځګوني جهيلونه د اتلانتيک له سمندر سره نښلوي. دا سيند د کنګل کيدلو له امله ټول کال د بيړيو چلولو وړ نه دی. دشمالي کنګل سمندر (Arctic ocean) د حوزې سيندونه له واورو څخه سرچينه اخلي او د کال زيات وخت کنګل وي. د دې حوزې ډير لوی سيند د ميکنزي (Mackenzie) سيند دی چې د اتابسکا (Athabasca) له سيند څخه سرچينه اخلي او مصب (خوله) يې په شمال کې د بيو فورت (Beaufort) په سمندرګي کې ده. دا سيند د شمالي امريکا د يوه څيړونکي ماکينزي په نوم نومول شوی دی.

د آرام سمندر (الکاهل بحر) د حوزې سيندونه نسبتاً لنډ، لږ لوړوالی او د چټک بهير لرونکي دي. د دې حوزې لوی سيندونه کلمبيا Columbia او کلورادو Colorado دي. دا سيندونه د راکي له غرونو څخه سر چينه اخلي او په آرام سمندرکې توييږي. د کلورادو سيند ژوره وادي چې ديوالونه يې عمودي دي منځته راوړې، سرچينه يې بارانونه او واورې تشکيلوي او د مکسيکو په هيواد کې د کلفورنيا په خليج کې توييږي. د دې سيند اوږدوالی ٤٥٠ کيلومتره دی، اوبه يې خټينې او سرې دي، نو ځکه اسپانويانوهغه د کلورادو په نامه نومولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي د لارښوونې لاندې په ډلو وويشل شي او هره ډله دې د لاندې مطالبو په هکله بحث او خبرې وکړي او دامريکا په نقشه کې دې يې وښيي:

ـ د ميسي سي پي سيند
ـ د ميکنزي سيند
ـ د کلورادو سيند
ـ د سنت لارنس سيند

## پوښتنې

لاندې جملې په مناسبو کلمو ډکې کړئ.

۱ـ د ميسي سي پي د سيند له .........څخه سرچينه اخلي.
۲ـ د ميسي سي پي سيند د چپ اړخ لوی مرستيال............. دی.

لنډ ځواب ورکړئ

۱ـ د شمالي کنګل سمندر د حوزې د لويو سيندونو نومونه وواياست؟
۲ـ د کلورادو د سيند اوبه چيرى تويږي؟
۳ـ د ميسي سی پي سيند د اوږدوالي له پلوه په نړۍ کې کوم مقام لري؟
٤ـ د کلمبيا د سيند مصب چيرې دی؟
٥ـ د اتلانتيک سمندر د حوزې د مهمو سيندونو نومونه وواياست؟




## له ټولګي څخه بهر فعاليت

د امريکا د ليکنې پرته (سپينه) ورکړ شوي نقشه رسم يا کاپي کړئ اوپه هغې کې د سيندونو نومونه وليکئ او د جغرافيې په راتلونکي لوست کې يې زده کوونکو ته وښياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# د جنوبی امریکا سیندونه




د سویلي امریکا سیندونه

ستاسو له نظره ولې په جنوبي امریکا کې له اوبو ځخه ډک سیندونه شته؟

د استوایي سیمو ډیر اورښتونه د دې سبب شوي چې په دې لویه وچه کې زیات او اوبو څخه ډک سیندونه منځته راشي. د انديز غرونه د جنوبي امريکا په لویدیځه غاړه کې اوږده پراته دي چې د دې قطعې د ختیځې حوزې ترمنځ د اوبو دویش پولې په توګه ګڼل کیږي.

د انديز د غرونو د ختیځې برخې د ټولو لویو سیندونو اوبه د اتلانتیک سمندر ته تویږي. د دې وچې د سیندونو اساسي سرچینه سیمه ایز بارانونه دي، چې د امازون په حوزه کې هره ورځ اوری اوپه دوامداره توګه د سیندونو اوبه زیاتوي. د امازون سیند د نړۍ د ډیرو زیاتو اوبو لرونکی سیند دی.

د امازون د سیند اوږدوالی د هغه له مرستیال د یوکایالي Ucayali له سیند سره (د پیرویه هیوادکې) ٦٤٨٠ کیلومتره دی اوبه اتلانتیک سمندرکې تویږي، چې په دې توګه د نیل له سیند څخه وروسته دوهم مقام لري. دا سیند له هوارو سیمو تیریږي، ډیرې لږې ځوړی لري او دخپل بهیر په اوږدوکې څه ناڅه د ٥٠٠ مرستیالانو سره یوځای کیږي، نو ځکه ټول کال له اوبو ځخه ډک وي او د مستیدو لوړه اندازه یې د جنوبي نیمې کرې د اوړې د موسم اخیر وي. د امازون د سیند ټوله حوزه استوایي ځنګلونو پوښلې ده چې د ربړ ونې یې د اقتصادي مهمو پیداوارو څخه دي. د ښی غاړې لوی مرستیال یې د مادیرا Madeira سیند او د کیڼې غاړې مرستیال یې د نګرو Negro سیند دی. د سیند زیات ژور والی او زیاتې اوبه د دې سبب شوی چې د زرګونو کیلومترو د واټن په وهلو سره بیړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه سیند په بهیر کې تګ او راتګ وکړي.

د امازون کلمه د سیمه ایزو خلکو په ژبه ډیر زوږ او غږ لرونکو اوبو په معنا ده. په دې سیند کې د سمندري مد په وخت کې څپې عمودا د پنځومترو په لوړوالي په ډیر لوړ غږ د سیند د اوبو د حرکت په خلاف پورته حرکت کوي او د شور او زوږ د منځته راتلو سبب کیږي. د جنوبي امریکا نور لوی او د اوبو ډک سیندونه د پارانا Parana او اورینوکو Orinoco سیندونه دي. د پارانا سیند خپلې اوبه د برازیل د غرونو له لویدیځو لمنو او د هغه د ننني هوارو سیمو څخه اخلي. اوږدوالی یې ٤٧٠٠ کیلومتره دی او د اتلانتیک په سمندرکې تویږي. دګیانا Guiyana د غرونو شمالي لمنې او د اورینوکو هوارۍ د اورینوکو د سیند حوزه جوړوي. نوموړی سیند له هوارو ځمکو څخه تیریږي، اوږدوالی یې ٢٧٣٠ کیلومتره دی او د بیړیو چلولو وړ دی.

د اورینوکو د سیند د یوه مرستیال په بهیر کې د انجیل ځروبی د ونزویلا په هیواد کې پروت دی چې د نړۍ ډیر لوړ ځروبې ګڼل کیږي او لوړوالی یې ١٠٥٤ مترو ته رسیږي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. هره ډله دې په لاندې موضوعاتو بحث او خبرې وکړي او پایلې دې یې ټولګي والوته ووایي.

د امازون، پارانا او اورینوکو د سیندونو سرچینه او مصب چیرې دي او څه اقتصادي ارزښت لري.

### پوښتنې

١ـ سم ځوابونه د (س) په توري او غلط ځوابونه د (ن) په توري نښه کړئ.

- د امازون سیند د اوبو د حجم له پلوه د نړۍ لوی سیند دی ( )
- د پارانا د سیند اوبه د اتلانتیک سمندر ته تویږي. ( )

٢ـ سم ځواب په نښه کړئ

- د نړۍ ډیر لوړ ځروبی په لاندې کوم یوه هیواد کې دی؟

الف ـ ارجنتاین ب ـ برازیل ج ـ ونزویلا د ـ اکوادور

٣ـ د اورینوکو سیند چیرې تویږي؟

الف ـ د مکسیکو په خلیج کې ب ـ د اتلانتیک په سمندرکې
ج ـ په ارام سمندرکې د ـ د کاراibین په سمندرګي کې

٤ـ لاندې جملې په مناسبو کلمو ډکې کړئ.

ـ د امازون د سیند سرچینه د .................. تشکیلوي.
ـ د امازون د سیند دښي غاړې لوی مرستیال ........ او د کیڼې غاړې لوی مرستیال یې ........... دی.


### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د (٦٤) مخ د امریکا له لیکنې پرته نقشه انځور اویا کاپي کړئ او په هغې کې د سیندونو نومونه ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې ټولګیوالو ته وښیاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوويشتم لوست

# ج- دامريكا د جهيلونو په هكله څه پوهيږئ؟




د شمالي امريكا د پنځه گونو جهيلونو نقشه

ستاسو له نظره د امريكا د جهيلونو په منځ ته راتگ كې اغيزمن عوامل كوم دي؟

په تيرو لوستونو كې د جهيلونو له اصطلاح سره آشنا شوي ياست. د امريكا په لويه وچه كې د طبيعي ځانگړتياو پر بنسټ زيات جهيلونه شته دي. د شمالي امريكا لوى جهيلونه سوپرير(Superior) ۸۳۲۷۰ كيلومترمربع، مشيگان(Michigan) ۵۸۲۰ كيلومتر مربع، هورن(Huron) ٦۰۷۰۰ كيلومترمربع، ايري(Eerie) ۲٥٦۸۰ كيلومتر مربع او انتاريو Ontario چې ۱۹۲۳۰ كيلومتره مربع دى. د انتياريو جهيل د سنت لورنس Sent Laurence د سيند په وسيله د سنت لورنس د خليج او د اتلانتيك له سمندر سره نښتى دى.

د سوپرير جهيل د پراخوالي له پلوه ډېر پراخه او د خوږو اوبو د درلودلو له امله په نړۍ كې لومړنى مقام لري. دا جهيلونه د كنگلونو (يخچالونو) په سبب منځته راغلي او د اوبو سطحه يې سره توپير لري. د سوپرير، هورن او مشيگان جهيلونه د كوچنيو آبناء گانو په وسيله يو له بل سره نښتي دي، خو د ايري جهيل بيل دى او د انتاريو جهيل د سنت لورنس د سيند په وسيله د اتلانتيك له سمندر سره نښتى دى. دنياگارا ځروبي ته په بومي ژبه نياگارا (زوږ او غږ لرونكې) اوبه وايي چې د نياگارا د سيند په بهير كې چې د أيرى او انتاريو جهيلونه سره نښلوي رامنځ ته شوى دى چې اوبه يې له شمال څخه جنوب لورته يعنې دكانادا له هيواد څخه د متحده ايالاتو خاورې ته توييږي. په همدې برخه كې د اوبو د بريښنا ستيشن هم جوړ شوى دى چې په دواړو هيوادونو كانادا او متحده ايالاتو پورې اړه لري. د دې جهيلونو اوبه د بيړيو چلولو وړ دي او د مشيگان جهيل دكانال په واسطه د ميسي سي پي د سيند سره هم نښلول شوى دى. د متحده ايالاتو د لويديځ او جنوب لويديځ جهيلونه تقريبا سمندر ته لار نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې حوزې لوی جهیل د گریت سالت Great Salt په نوم یادیږي.

د سپوږمکۍ په وسیله د جهیل تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library



دکاناډا د هېواد جهیلونه زیاتره دکنګلونو (یخچالونو) تر اغیزې لاندې دي. دې جهیلونو د ۱۰۰۰۰ کیلومترو مربعو په پراخوالي د لوارنت پلیتو Laurent Plateau لوړې له جنوب ختیځ، جنوب او جنوب لویدیځ لوري راچاپیره کړې دي. د (۶۲) مخ نقشې ته پام وکړئ.

لومړۍ ګڼه جدول: دکانادا د هیواد نور جهیلونه (اضافي معلومات)

| ګڼه | د جهیل نوم | موقعیت | د اوبو ډول |
|---|---|---|---|
| ۱ | ګریت بیر Great Bear | کانادا | یخچالي او دخوږو اوبو لرونکی |
| ۲ | ګریت سیلیو Great Slave | کانادا | یخچالي او د خوږو اوبو لرونکی |
| ۳ | وینی پګ Winnipeg | کانادا | یخچالي او د خوږو اوبو لرونکی |
| ٤ | منی توبا Manitoba | کانادا | یخچالي او د خوږو اوبو لرونکی |

د دې جهیلونو لومړنی بستر د یخچالي پروسې پورې اړه لري. تقریبا دکاناډا د هیواد ټولو سیندونو له جهیلونو څخه سرچینه اخیستې اوبو شمیر یې مخکې له دې چې سمندرونو اویا د هدسن خلیج ته ورسیږي د لس ګونو جهیلي سیمو څخه تیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په منځنۍ امریکا کې تکتونیکي ژورو، غرونه سره جلا کړي دي او پراخه او ژور جهیلونه یې منځته راوړي دي د ټولو لوی یې د نیکاراګوا Nicaragua جهیل دی چې ۱٦۷ کیلومتره اوږدوالی او ۷۰ متره ژور والی لري چې د نیکاراګوا د هیواد په لویدیځ کې موقعیت لري. دا جهیل د فعالو او غیرو فعالو اتشفشاني ټاپوګانو لرونکی هم دی. په جنوبي امریکا کې د بولیویا او پیرو د هیوادونو په پوله کې د تي تي کاکا Titicaca جهیل چې د سمندر له سطحې څخه ۳۸۱۲ متره لوړوالی لري، پروت دی چې د دې لوېې وچې ډیر لوړ جهیل شمیرل کیږي.

**د ټولګي دننه فعالیت**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او لاندې پوښتنو ته دې د (٦٢) او (٦٥) مخ د نقشې په اساس ځواب ورکړي او د هرې ډلې استاذی دې د خپل کار پایلې ټولګي والوته ولولي.

۱ــ د کانادا د هیواد د جهیلونو موقعیت په نقشې کې وټاکئ؟

۲ــ د متحده ایالاتو د جهیلونو موقعیت په نقشې کې وټاکئ؟

۳ــ د منځنۍ امریکا د جهیلونو موقعیت په نقشه کې وټاکئ؟

٤ــ د جنوبي امریکا د جهیلونو موقعیت په نقشه کې وټاکئ؟

**پوښتنې**

۱ــ د شمالي امریکا لوی جهیلونه کوم دي؟

۲ــ د کانادا د هیواد لوی جهیلونه کوم دي؟

۳ــ ولی د ځینو جهیلونو اوبه خوږې او د ځینو مالګینې وي؟

٤ــ د امریکا د لوېې وچې ډیر لوړ جهیل کوم دی؟

**له ټولګي څخه بهر فعالیت**

د امریکا د لوېې وچې طبیعي نقشه د (٦٤) مخ څخه کاپي یا انځور کړئ او د جهیلونو نومونه یې ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې ټولګیوالوته وښیاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

# د- د امریکا د سمندرګیو په هکله څهٔ پوهیږئ؟




د کارابین سمندرګی

سمندرګي څه اقتصادي ارزښت لري؟

دامریکا د لویې وچې له شاوخوا پراخه اوبه چاپیره شوې دي او ډیر سمندرګي لري.

د دې لویې وچې ډیر لوی سمندرګی د کارابین سمندرګی دی، چې د غرب الهند د ټاپوګانو (د لوی انتیل د ټاپوګانو ځینې لکه کیوبا، هایتي، جامیکا، پورتوریکو او د کوچني انتیل ټاپوګان چې اورغورځونکي منشاء لري لکه ترینیداد او توباکو او داسې نور)، د منځنۍ امریکا د ختیځو غاړو او د جنوبي امریکا د شمالي غاړو ترمنځ پروت دی او پراخوالی (مساحت) یې ۱۹۴۳۰۰۰ کیلومترو مربعو ته رسیږي. دا سمندرګی د جغرافیایي موقعیت له مخې په استوایي عرض البلدونو کې د تودوخې د لوړې درجې (د سانتي ګراد ۲۴ څخه تر ۲۷ درجو) او د لړې مالګې د لرلو په سبب د سمندر له اوبو څخه توپیر کیږي. د کارابین سمندرګی د اقتصادي او ستراتیژیکي ځانګړې ارزښت لرونکی دی او د نړۍ د سمندري سوداګریزو د مهمو لارو په تګ لوری کې چې د اتلانتیک له سمندر څخه آرام سمندرته له پانامې د کانال څخه تیریږي او د ګڼه ګوڼې څخه ډیره ډکه د اوبو لاره ده، پروت دی. د دې سمندرګي غاړې لږ لوړوالی لري او لوی سوداګریزه بندرونه یې په غاړو کې جوړ شوي دي.

- د پانامې کانال په کوم هیواد کې پروت دی، کوم سمندرونه یې سره نښلولي او څه اقتصادي ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري؟

دامریکا د لویېچې شمالي او شمال ختیځ سمندرګي لکه د بیوفورت Beaufort سمندرګی دکانادا په شمال او د لابرادور Labrador سمندرګی دکانادا د هیواد په ختیځ کې د اقلیم له پلوه د شمال کنګل سمندر سره ورته والی لري. څه ناڅه ټول کال کنګل او د تودوخې درجه یې د سانتي ګراد د منفي ۵۰ درجو څخه کښته وي، او حتی دوبی یې له یوې نیمې څخه تر دوو میاشتو دوام کوي، کله کله یې د تودوخې درجه د سانتي ګرداد له ۱۰ درجو څخه پورته ځي، په همدې سبب د قطبي سمندرګیو په نوم یادیږي او یواځې دځیږنو لپاره بیړۍ پکې تګ اوراتګ کوي. په غاړو او ژورو برخوکې یې ځینې سمندري حیوانات لکه کبان ژوند کوي. د بیوفورت له سمندرګي څخه نفت هم رایستل ګیږي.

ـ د اسیا او امریکا د لویو وچو ترمنځ کوم سمندرګي او آبناء پراته دی؟

د الاسکا د ایالت په شمال لویدیځ کې د چوکاتسک یا چي چي (Chichi) سمندرګی پروت دی چې د کال زیاتره وخت کنګل وي. د شمالي امریکا او د اسیا د لویو وچو ترمنځ بل لوی سمندرګي د بیرنګ Bering په نوم د ۲۲۶۹۰۰۰ کیلومترمربع د پراخوالي په لرلوسره پروت دی. دا سمندرګی د بیرنګ د ابناء له لارې چې ۸۵ کیلومتر سور لري د شمالي کنګل سمندر سره نښلي. شمالي برخه یې د ژمي په اوږدوکې کنګل وي. خو جنوبي برخې یې نه کنګل کیږي او د بیړیو چلولو وړ دي.

(۶۲) مخ نقشې ته وګورئ.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، او هره ډله دې د ۶٤ مخ نقشه انځور اویا کاپي کړي او نومونه دې په ټاکلو ځایونوکې ولیکي او د هرې ډلې استاذی دې هغه ټولګیوالوته وښیي.

### پوښتنې

١ـ دامریکا د لویېچې کوم سمندرګی ټول کال د بیړیو چلولو وړ دی؟

٢ـ د کوم کانال له لارې، د اتلانتیک سمندر د ارام له سمندر سره نښلول شوی دی؟

٣ـ د بیرنګ سمندرګی د امریکا په کومه برخه کې پروت او کومې لویې وچې یې سره بیلې کړې دي؟

٤ـ د امریکا د لویې وچې شمالي سمندرګی د کارابین د سمندرګي سره پرتله کړئ؟


### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د امریکا له لیکنې پرته نقشه له (٦٤) مخ څخه کاپي کړئ، د سمندرګیو موقعیت پکې وټاکئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې ټولګیوالوته وښیاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هـ- د امریکا د لويې وچې د خلیجونو په هکله څه پوهيږئ؟




پورتنی نقشې ته وګورئ. ولې د امریکا په لویه وچه کې ډیر خلیجونه شته دي؟

### د شمالي امریکا خلیجونه

دامریکا لویه وچه ډیر خلیجونه لري ځکه د دې لویې وچې ښه موقعیت د دوو سمندرګیو ترمنځ او د اوبو ننوتلو له کبله په وچه کې د ډیرو خلیجونو منځته راتګ سبب شوی دی.

په دې لویه وچه کې د سوداګرۍ او بیړیو جوړولو د صنعت پرمختیا هم د همدې خلیجونو د شتوالی له امله ده. د شمالي امریکا په جنوب ختیځ کې د مکسیکو خلیج پروت دی چې د فلوریدا د ټاپو وزمې په وسیله د اطلس (اتلانتیک) له سمندر څخه بیل شوی دی.

دې خلیج سربیره پردې چې د بیړیو چلولو لپاره یې ښه شرایط برابر کړي دي، په سواحلو کې یې د نفتو، طبیعي ګازو او مالګو زیرمې هم ساتلي دي.

د ګلف ستریم تود بهیر د مکسیکو د خلیج له سیمې تیریږي چې د سیمې د اقلیم د بدلون او د اوبو د سطحې د پورته کیدو سبب کیږي.

د دې سیمې بل لوی خلیج د مکسیکو د هیواد په ختیځ کې د کامپیچ Campeche خلیج دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمالي امريكا په ختيځو غاړوكې د اطلس د سمندر اوبه په وچې كې ننوتلې چې په ځينو برخوكې يې ژور او په ځينو نورو برخو كې يې لږ ژور خليجونه منځته راوړي دي. دا خليجونه د فلوريدا د ټاپو وزمې څخه پيل او د بافين Baffin په سيمه كې خپل اعظمي سورته رسيږي. د كانادا شمالي خليجونه د اقليمي رژيم له پلوه شمالي كنګل سمندرته ورته والی لري، او دبيرېو چلولو وړ نه دي.

دويمه ګڼه جدول د شمالي امريكا خليجونه ( اضافی معلومات)


| ګڼه | د خليج نوم | | موقعيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | سنت لارنس | St Lawrence | د اطلس د سمندر په غاړه دكانادا د هيواد په ختيځ كې |
| ۲ | هودسن | Hudson | د اطلس سمندر په غاړه دكانادا د هيواد په ختيځ كې |
| ۳ | بافين | Baffin | د اطلس سمندر په غاړه دكانادا د هيواد په شمال ختيځ كې |
| ۴ | اموندسن | Amundsen | د شمال كنګل سمندر په غاړه دكانادا هيواد په شمال كې |
| ۵ | فوندی | Foundy | د اطلس سمندر په غاړه دكانادا هيواد په جنوب ختيځ كې |

ټولې هغه اوبه چې د امريكا د لويې وچې شمالي او شمال ختيځې غاړې يې راچاپيره كړې دي، د كال په اوږدو كې يې تودوخه ډيره ټيټه او كله هم د سانتي ګراد د مثبت ۱۰ درجو څخه نه اوړي د كال زياتره وختونه كنګل وي. نوله همدې امله د هودسن د خليج سړې اوبه او د مكسيكو د خليج تودې اوبه د شمالي امريكا پر اقليم باندې مستقيمه اغيزه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library




د مکسیکو د خلیج تصویر

د شمالي امریکا د ارام سمندر غاړې لړې وتلې او ننوتلې دي، خو د دې وچې په شمال لویدیځو غاړو کې لوی او کوچني ټاپوگان پراته دي چې ډیرې وتلې او ننوتلې غاړې لري. د دې سیمې له ډیرو لویو خلیجونو څخه یوهم دکلفورنیا خلیج دی چې دکلفورنیا California د ټاپو وزمې په ختیځ کې موقعیت لري او دکلورادو سیند په هغه کې تویېږي. دا خلیج اوږد اوکم سوره دی، او یوه ماته او ژوره ساحه یې منځته راوړې ده. د الاسکا Alaska خلیج د دې ساحې بل لوی خلیج دی. چې د امریکا د لوېې وچې په شمال لویدیځ کې موقعیت لري. د یادونې وړده چې ټول لوی او ژور خلیجونه د بیړیو چلولو او بندرونو د جوړونې لپاره ښهٔ شرایط برابره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د امريکا د لويې وچې نقشه دې له (٦٤) مخ څخه کاپي کړي، او د شمالي امريکا د مهمو خليجونو نومونه دې د هغې پر مخ وليکي، او د ډلې استاذی دې يې ټولګيوالوته وښيي.

## پوښتنې

١ـ د مکسيکو له خليج څخه ثه اقتصادي ګټه اخيستل کيږي؟
٢ـ د شمالي امريکا په ختيځ کې کوم لوی او ژور خليجونه شته؟
٣ـ د امريکا شمالي خليجونه ولې د بيړيو چلولو وړ نه دي؟
٤ـ د شمالي امريکا د لويديځې غاړې لوی خليجونه کوم دي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

لاندې جدول بشپړ کړئ او د جغرافيې په راتلونکي درس کې يې ټولګيوالوته ولولئ.

| ګڼه | د خليج نوم | موقعيت | اقتصادي ارزښت |
|---|---|---|---|
| ١ | مکسيکو | د شمالي امريکا په جنوب ختيځ برخوکې | |
| ٢ | سنت لارنس | | د بيړيو چلولو وړ دی |
| ٣ | هودسن | | |
| ٤ | الاسکا | | |
| ٥ | کلفورنيا | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلرويشتم لوست

# د جنوبی امریکا خلیجونه




د سویلی امریکا نقشه

آیا د سویلي امریکا ټول خلیجونه د سوداگرۍ د لویو بېړیو چلولو ته برابر دي؟

د سویلي امریکا د خلیجونو په هکله څه پوهیږئ؟

د سویلي امریکا د اطلس (اتلانتیک) سمندر په غاړوکې لوی خلیجونه چې په وچه کې ډېر ننوتلي وي نشته دي. یوازې د ارجنتاین د هیواد په جنوب ختیځو غاړوکې نیمه دایروي شکله خلیجونه لیدل کیږي. د پارانا Parana د سیند په خوله (مصب) کې د ریودو لاپلاتا اوږده او پراخ سواحل پراته دي. د هغه په شمال کې د سادومارکوس کوچنی خلیج موقعیت لري چې د بیړیو چلولو لپاره یې د بندر جوړوني ښه شرایط برابر کړي دي. د امازون د سیند خوله هم د بیړیو چلولو وړ ده. د کارابین د سمندرگي په غاړو د ونزویلا لوی خلیج پروت دی، چې ځانگړې سوداگریز ارزښت لري. د جنوبي امریکا په شمال لویدیځ کې د ارام سمندر په غاړه د پانامې لوی خلیج پروت دی چې د پانامې د کانال له لارې یې د بیړیو چلولو لپاره ښه شرایط برابر کړي دي. همدارنگه د استوا د کرښې جنوب ته د اکوادور په هیواد

دریمه گڼه جدول: د جنوبي امریکا نور خلیجونه (اضافي معلومات)

| گڼه | د خلیج نوم | موقعیت |
|---|---|---|
| ۱ | سان ماتیاس (San Matins) | د ارجنتاین د هیواد په ختیځ کې د اطلس سمندر په غاړه |
| ۲ | بلانکا (Blanca) | د ارجنتاین د هیواد په ختیځ کې د اطلس سمندر په غاړه |
| ۳ | سان جورج (San jorgs ) | د ارجنتاین د هیواد په ختیځ کې د اطلس سمندر په غاړه |
| ۴ | گراند (Granda) | د ارجنتاین د هیواد په ختیځ کې د اطلس سمندر په غاړه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دګواياګيل Guayaquil لوی خليج پروت دی چې دګواياګيل لوی بندر هم دلته جوړ شوی دی او د هغه په جنوب کې د عرض البلد تر ۳۰ درجو پورې د هغه سواحل وتلي او ننوتلي نه دي او د غاړو لوړوالی يې هم ډير دی، چې د بيړيو لنګر اچولوته برابر نه دي. خو د ارام سمندر د سواحلو په جنوبي ورستيو برخو کې د چيلي په هيواد کې ډيرې ننوتلي او وتلي شته، خليجونه يې تاوراتاو او سورور دي لکه کورکوادو Corcovado او د دې پنياس De penas چې د پراخو او ژورو خليجونو د سمندري سوداګريزو بندرونو جوړونې ته يې مناسب شرايط برابر کړي دي. ډير هيوادونه سره له دې چې پراخه سمندري غاړې لري خو د خليجونو د نه درلودلو يا د نا برابرو او لږ ژورو خليجونو د درلودلو په سبب د بيړيو چلولو لپاره د ګټې اخيستنې وړ نه دي.


په لاتينه امريکا کې د خليجونو انځورونه

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې پر څو ډلو وويشل شي د ٦٤ مخ نقشه دې کاپي کړي او په هغې کې دې د لويو خليجونو نومونه په ټاکلو ځايونو کې وليکي.

الف ـ د جنوبي امريکا شمالي خليجونه    ب ـ د اطلس سمندر د غاړو خليجونه

ج ـ د ارام سمندر د غاړو خليجونه

## پوښتنې

۱ـ لاندې پوښتنې بشپړې کړئ.

ـ د اکوادور د هيواد د .............. خليج په غاړه لوی تجارتي بندر جوړ شوی دی.

ـ د چيلی د هيواد لوی خليج ................ دی.

۲ـ لنډ ځواب ورکړئ

ـ کوم سواحل په طبيعي توګه د بندرونو جوړونې ته مناسب نه دي؟


ـ ستاسو له نظره له خليجونو څخه څه اقتصادي ګټه اخيستل کيږي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

د ارام سمندر د غاړو خليجونه د اطلس د سمندر د غاړو دخليجونو سره د بندرونو د جوړونې او بيړۍ چلونې له پلوه پرتله کړئ.

پنځه ویشتم لوست

## و- د امریکا د لویې وچې د اقلیم په هکله څه پوهیږئ؟




د نړۍ د سمندري تودو او سړو اوبو د بهیر نقشه

د نړۍ کومه لویه وچه د نړۍ ټول نباتات او اقلیمونه لري؟

د امریکا لویه وچه د نړۍ د نورو لویو وچو په خلاف په شمالي او جنوبي دوه نیمو کرو کې موقعیت لري، نو ځکه د نړۍ د ټولو نباتاتو او اقلیمونو ډولونه لري.
د (۸۲) مخ نقشې ته وګورئ.

_ شمالي امریکا د کومو اقلیمي سیمو لرونکې ده؟
شمالي امریکا د منځنۍ امریکا په ګډون د شمالي عرض البلد د ۷ او ۸۳ درجو ترمنځ پرته ده. چې په دې ترتیب له شمال څخه جنوب ته ټولې اقلیمي سیمې د استوا څخه پرته ، په بر کې نیسي، چې دارنګه ډېره برخه یې په قطبي او معتدله او لږه برخه یې د استوا لاندې په (منځنۍ امریکا کې) پرته ده. او دا ډول موقعیت د شمالي او جنوبي برخو ترمنځ د تودوخې د درجې د توپیر سبب کیږي.
د شمالي امریکا په ختیځه برخه کې لوړ غرونه نشته، نو ځکه د اتلانتیک د سمندر لخوا د ختیځو مرطوبو کتلو د راتګ لپاره برابره ده. خو په لویدیځ کې د راکي غرونه د ارام سمندر لخوا د مرطوبو هوایي کتلو د بهیر خنډ ګرځي.
د شمالي کنګل سمندر او د مکسیکو د تود خلیج ترمنځ د دښتو شتوالی د استوایي او قطبي عرض البلدونو ترمنځ د شمال څخه جنوب لورته د هوایي کتلو د تبادلې شرایط د کال په ټولو موسمونو



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې برابر کړي دي.

د اتلانتیک په سمندر کې د شمالي او جنوبي برخو ترمنځ د تودوخې د درجې توپیر لیدل کیږي، یعنې د ګلف ستریم تود بهیر د شمالي امریکا جنوب ختیځ سواحل توده وي، او د لابرادور سوړ بهیر د کانادا ختیځې برخې سړه وي. د شمالي امریکا په لویدیځ کې د ارام سمندر دکوروشیو تود بهیر د شمال په لوري او د کلفورنیا سوړ بهیر دجنوب په لوري د کال په اوږدوکې د تودوخې د بدلون سبب کیږي.

د شمالي امریکا ډیرې مرطوبې سیمې په ختیځ کې د اتلانتیک د سمندر غاړې او په لویدیځ کې د ارام سمندر سواحل دي، ډیرې وچې سیمې د راکي د غرونو منځنۍ سیمې يې دي چې د اورښت اندازه يې ډیره لږه ده. د شمالي امریکا په شمال کې د تندرا سړه سیمه، د هغې په جنوب کې معتدله سیمه او د معتدلې سیمې په جنوب کې د سب تروپیک سیمه پرته ده.

جنوبي امریکا د کومو اقلیمي سیمو لرونکې ده؟

جنوبي امریکا د شمالي عرض البلد ۱۲ درجو او د جنوبي عرض البلد د ٥٦ درجو ترمنځ پرته ده او ډیره برخه يې په توده منطقه کې پرته ده. یعنې د خاورې زیاته برخه يې د سرطان او جدي د کرښو ترمنځ په استوایي یا حاره يي سیمه کې او لږه جنوبي برخه يې په معتدله سیمه کې پرته ده. د جنوبي امریکا په لویدیځه برخه کې د انډیز د غرونو طبیعي حالت اوپه ختیځ کې پراخې هوارې پر اقلیم غوره اغیزه لري. د انډیز د غرونو لړۍ ختیځې خواته د لندې هوا د ورتګ خنډ ګرځي.



د استوا لاندې د سیمې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوېې وچې په ختیځو غاړوکې تقریبا د استوا کرښې ته نږدې د استوا د تودو اوبو بهیر تیرېږي، چې په شمال لویدیځ او جنوب لویدیځ کې د برازیلین(Brazilian Stream) په تودو بهیرونو ویشل کیږي. اوپه ژمي کې د جنوبي امریکا په سواحلو کې د تودوخې د سانتي ګراد څه ناڅه ۳ درجو د زیاتوالي سبب کیږي. د جنوبي امریکا د لویدیځو سواحلو په اوږدوکې د پیرو په نوم د سړو اوبو (Peru Stream) بهیر له جنوب څخه شمال لورته د استوا تر کرښې پرمخ ځي او د ساحلي هوا تودوخه راښکته کوي، ان تردې چې د استوا په مدار کې د تودوخې کچه ٤ درجې راښکته کوي. د دې بهیر بل ښاخ د جنوبي امریکا جنوب ختیځ سواحل هم سړ وي.

د معتدله سیمې انځور




(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په پنځه کسيزو ډلو وويشل شي او هره ډله دې د امريکا د لويې وچې اقليمي نقشه د هغې د لارښود سره چې په کې هره اقليمي سيمه په ځانګړې رنګ سره ښوول شويده په غور سره وګوري او هره ډله دې د يوې اقليمي سيمې د ځانګړتيا په هکله ځواب برابر کړي او ټولګيوالوته دې يې وړاندې کړي.

۱ـ سوړ اقليم
۲ـ معتدل اقليم
۳ـ سب تروپيک اقليم
٤ـ د تندرا اقليم




## پوښتنې

سم ځواب د (س) په توري او ناسم ځواب د (ن) په توري نبنه کړئ.

۱ـ د امريکا لويه وچه په شمالي او جنوبي دوه نيمو کرو کې پرته ده. (    )

۲ـ د شمالي امريکا د خاورې ډيره برخه په توده او استوايي سيمه کې پرته ده. (    )

لنډ ځواب ورکړئ.

۱ـ کوم سمندري بهيرونه د امريکا د لويې وچې پر اقليم اغيزه کوي؟

۲ـ کوم غرونه د امريکا لويې وچې ته د ارام سمندر له لوري د لنده بل خنډ ګرځي.




## له ټولګي څخه بهر فعاليت

د امريکا د لويې وچې سپينه نقشه د ورکړل شوې اقليمي نقشې پر بنسټ رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

## ۲، ۳- د امریکا د سیاسي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟




د امریکا سیاسي نقشه

د امریکا په لویه وچه کې څو خپلواکه هیوادونه شته؟

د امریکا لویه وچه د ٤٢،١ میلیونو کیلومترو مربعو په پراخوالي سره په دوو شمالي او جنوبي نیموکروکې موقعیت لري. دا لویه وچه په ٥١ سیاسي واحدونو ویشل شوې ده، چې له هغې جملې څخه ۳۵ واحده یې خپلواکه هیوادونه او نور پاتې یې لاتر اوسه د بهرنیو هیوادونو تر کنټرول لاندې دي. په شمالي امریکا کې چې د انګلوساکسون په نوم هم یادیږي د (امریکا متحده ایالاتونو، اتازونې او کانادا) دوه هیوادونه پراته دي. د امریکا د متحده ایالتونو هیواد د ۹،۳۶۳،۰۰۰ کیلومترو مربعو په پراخوالي سره د نړۍ څلورم لوی هیواد دی چې د ۵۰ ایالتونو څخه جوړ شوی دی. نو له همدې امله یې د هیواد رسمي بیرغ ۵۰ ستورې لري.

د حکومت ډول یې فدرالي جمهوریت دی او جمهور رئیس یې د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د کانادا هیواد د (۹،۹۷۰،٦۱۰) کیلومترو مربعو په پراخوالي سره د روسیې له هیواد څخه وروسته د نړۍ پراخه هیواد دی. دا هیواد له لسو ایالتونو څخه جوړ شوی دی، او لاتر اوسه یې ګورنر جنرال چې تشریفاتي بڼه لري د انګلستان د ملکې له خوا ورپیژندل کیږي، او د انګلستان د هم ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(مشترك المنافع)، هيوادونو د ډلې څخه شميرل کيږي. د منځنۍ امريکا اته گوني هيوادونه د جنوبي امريکا د هيوادونو په گډون د لاتيني امريکا په نوم ياديږي. چې ډير مهم گډ خصوصيات يې لاتيني ژبه ده. چې په دغو زياترو هيوادونو کې رسمي ژبه اسپانوي او په برازيل کې پرتگالي ده.

ډير لوی هيواد يې برازيل دی چې پراخوالی يې ٨،٥٤٧،٤٠٤ کيلومتر مربع او پلازمينه يې د برازيليا ښار دی او ډير کوچنی هيواد يې ترينيداد او توباگو دی، مهم ښار يې د ارجنتاين هيواد کې بونس ايرس دی چې د امريکا د پاريس په نوم هم شهرت لري. دجنوبي امريکا د نفوسو ډک هيواد بياهم د برازيل هيواد دی چې ١٨٤،٧ ميليون تنه نفوس لري، او لږ نفوس لرونکی هيواد يې وفالکلند تر استعمار لاندې هيواد دی چې ٢٠٠٠ تنه نفوس لري. د امريکا د لويې وچې شپږ هيوادونه فدرالي ١٩ يې ولسواکه(جمهوري) او لس نور يې د انگلستان پخوانۍ مستعمرې دي، چې اوس يې خپلواکي په رسميت پيژندل شوې ده، خو لاتر اوسه يې گورنر جنرال د انگلستان د ملکې له خوا ټاکل کيږي او د انگلستان د هم گټو هيوادونو څخه گڼل کيږي.

### د ټولگي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي، د پخوانيو معلومات په پام کې نيولوسره دې د امريکايي هيوادونو د حکومتي جوړښت په هکله په خپل منځ کې بحث وکړي او پايلې دې يې ټولگيوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

١ـ د امريکا د لويې وچې د سياسي ويش نقشې ته په پاملرنې سره لاندنيو پوښتنو ته ځواب ورکړئ؟

الف ـ د شمالي امريکا د دوو هيوادونو نومونه ووایاست؟

ب ـ د منځنۍ امريکا د يوه هيواد نوم ووایاست؟

ج ـ د جنوبي امريکا د دريو هيوادونو نومونه ووایاست؟

٢ـ د جنوبي امريکا هيوادونه کومه گډه فرهنگي وجه لري؟

٣ـ د امريکا د متحدو ايالتونو (اتازوني) هيواد د څو ايالتونو څخه جوړ او د حکومت ډول يې څرنگه دی؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د امريکا د لويې وچې ديوه هيواد په هکله معلومات راټول او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲-۴، د امریکا د لویې وچې د بشري جغرافیې په هکله څه پوهېږئ؟



د راتلونکي مخ نقشې ته وګورئ، د امریکا په لویه وچه کې د نژادونو ویش راښیي.
په امریکا کې کوم نژادونه استوګنه لري؟

### الف ـ نژاد او ژبې

دامریکا دلوېې وچې خلك د ډول ډول نژادونو او ځانګو څخه جوړ شوي دي چې ډېر غوره يې عبارت دي له:

### ۱ـ بومیان یا سره پوستکي

د امریکا قدیمي او اصلي اوسیدونکي دي. چې په متحده ایالاتو او کانادا کې اوسیږي او هغوی ته هندیان Indian هم وایي. د امریکا له کشفولو وروسته دې لویې وچې ته د سپین پوستکو اروپایانو په راتګ سره چې د سره پوستکو د ځمکو د لاندې کولو په لټه کې وو. د بومیانو او اروپایانو ترمنځ ډیرې جګړې وشوې چې د هغو له امله نن ډیر لږ سره پوستکي پاتې دي. د دې خلکو کار کرنه او د ژویو ښکار و او د ونو له ریښو څخه يې هم خواړه برابرول. سره پوستکي د ژیړ پوستکو له نژاد څخه هم ګڼي چې ډیر پخوا یې د آسیا د لویې وچې څخه د بیرنګ د ابناء له لارې د امریکا لویې وچې ته مهاجرت کړی دی.


## ۲_ سپین پوستکي

د۱٦م پیړۍ څخه وروسته اروپايي سپین پوستکي مهاجرین ورو ورو امریکا ته راغلل هلته استوګن شول، او ورځ په ورځ یې شمیر زیات شو، نن د امریکا د لویې وچې زیات وګړي دوه رګه دي چې د مختلفو نژادونو او ملیتونو د اختلاط په نتیجه کې منځته راغلي دي.

## ۳_ تور پوستکي

امریکایي تور پوستکي په واقعیت کې د افریقایي غلامانو او مریانو زامن او لمسي دي چې داستعمار په دوران کې د اروپايي سپین پوستکو په واسطه په کانونو او کروندوکې د کار لپاره په اجباري توګه دې لویې وچې ته راوړل شوي دي. نن ورځ یو زیات شمیر تورپوستکي په شمالي، مرکزي او جنوبي امریکا کې ژوند کوي.

د امریکا په لویه وچه کې نژادونه




دامریکا په متحده ایالتونوکې تورپوستکي د دې هیواد په جنوب ختیځ او همدارنګه په لویو ښارونو لکه شیکاګو او نیویارک کې استوګنه کوي او د ژوند شرایط یې د سپین پوستکو په پرتله د اقتصادي او اجتماعي پلوه نا مناسب دي.

ایا پوهیږئ د امریکا په لویه وچه کې دوه فرهنګه او مروجې ژبې کومې دي؟

### الف ـ شمالي امریکا

په شمالي امریکا کې یعنې په متحده ایالاتو کې انګلیسانو د ۱۷ م پیړۍ په لومړیو اوپه کاناداکې د ۱۸ م پیړۍ په وروستیو کې یو ډول انګلیسي فرهنګ منځته راوړ چې لاتر اوسه شته. د کانادا وګړي په انګلیسي او فرانسوي او د متحده ایالاتو وګړي په انګلیسي ژبه خبرې کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب ـ لاتینه امریکا

منځنۍ او جنوبي امریکا په ګډه د لاتینې امریکا په نوم شهرت لري. د دې سیمې نوم او دهغو د ژوند کړه وړه د لاتینې اروپا یعنې د اسپانیې او پرتګال د فرهنګ نماینده ګي کوي چې اسپانوي ژبه د دې سیمې له ۲۰ جمهوریتونو څخه په ۱۸ جمهوریتونو کې مروجه ده، د برازیل خلک په پرتګالي او د هایتي خلک په فرانسوي ژبو خبرې کوي.



د تور پوستکي څېره



د سپین پوستکي څېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرو پوټکو خلکو یو تصویر



### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې په لاندې مطلب بحث او خبرې وکړي.

ـ لاتینه امریکا د لویې وچې کومې برخې ته ویل کیږي او ولې؟

ـ د تور پوستکو اصلي منشه چې نن ورځ په امریکا کې اوسیږي د کوم ځای څخه پیل کیږي؟

### پوښتنې

سم ځواب غوره کړئ.

۱ـ د انګلوساکسون فرهنګ په کوم یوه لاندني هیواد کې شته؟

الف: کانادا ب: برازیل

ج: ارجنتاین د: مکسیکو

۲ـ لاندې جملې بشپړې کړئ.

په جنوبي امریکا کې ............. فرهنګ رواج لري.

۳ـ لنډ ځواب ورکړئ.

ایا د امریکا د متحده ایالاتو تورپوستکي اقتصادي او اجتماعي مناسب شرایط لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

## ب - د امریکا د نفوسو او مذهب په هکله څه پوهیږئ؟



د امریکا په لویې وچې کې د نفوسو د جغرافیایي ویش نقشه

د امریکا د لویې وچې د نفوسو ډک ښارونه کوم دي؟

د امریکا د لویې وچې د نفوسو د جغرافیایي ویش نقشې ته ځیر شئ چې په امریکا کې د نفوسو میشته کیدنه شیي.

نن ورځ دامریکا د نفوسو زیاته برخه د دوو لویو وچو یعني داروپا او افریقا مهاجرین چې په لویو ښارونو کې استوګنه لري په برکې نیسي. د دې لویې وچې د نفوسو څخه ډکې سیمې شمالي او منځنۍ امریکا ده چې په ۲۰۰۰ م کال کې یې د ۴۸۰ میلیونو تنو څخه زیات وګړي درلودل. په جنوبي امریکا کې د ۳۴۶ میلیون تنو څخه زیات وګړي اوسیدل. د امریکا د لویې وچې ټول نفوس ۸۲۷ میلیون تنو ته رسیږي. په شمالي او منځنۍ امریکا کې له نفوسو څخه ډک ښار دنیویارك بندر دی چې نفوس یې په ۲۰۰۵ م کال کې ۱۸,۵ میلیونو تنو ته رسیده. په جنوبي امریکا کې بونس ایرس د ارجنتاین



د نیویارک یو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیواد پلازمینه له نفوسو څخه د ډکو ښارونو څخه شمیرل کیږي چې په ۲۰۰۵ م کال کې یې ۱۳,۳ میلیون تنه نفوس درلوده. همدارنګه په برازیل کې د ساو پائولو د ښار د وګړو شمیر په ۲۰۰۵ م کال کې ۱۸,۳ میلیونو تنو ته رسیده، د یادولو وړ ده چې د نفوسو وده په لاتینه امریکا کې د شمالي امریکا په پرتله زیاته ده. د شمالي امریکا وګړي له مکسیکو پرته زیاتره د پروتستانت د مذهب پیروان دي او د امریکا د لویې وچې نور اوسیدونکي کاتولیک مذهبه دي. چې د جنوبي اروپا میراث دی. د کاتولیک مذهب پیروان په لاتینه امریکا کې استوګن دي او د نورو دینونو پیروان لکه مسلمانان او یهودیان هم د امریکا په لویه وچه کې استوګنه لري.

دساو پائولو د ښار انځور



## د ټولګي دننه فعالیت

دامریکا دنفوسو د جغرافیایي ویش نقشې ته په پاملرنې، د دې لویې وچې له نفوسو څخه ډک ښارونه د لیکنې پرته نقشه کې مشخص کړئ.

## پوښتنې

۱ـ د امریکا په کوم ښار کې زیات تور پوستکي استوګنه کوي؟
۲ـ د نفوسو وده په شمالي امریکا کې زیاته ده که په جنوبي او مرکزي امریکا کې؟
۳ـ د پروتستانت مذهب زیاتره د دې لویې وچې په کومه برخه کې رواج لرئ؟ نوم یې واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

# ۲، ۵ _ د امریکا د اقتصادي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟



کوم عوامل د شمالي امریکا د اقتصادي پرمختګ سبب شوي دي؟

**شمالي امریکا:**

په اوسنیو شرایطو کې د شمالي امریکا دوه هیوادونه (متحده ایالات او کانادا) په مختلفو دلایلو د نړۍ له ډېرو پرمختللو هیوادونو څخه شمیرل کیږي، د مثال په توګه:

_ شمالي امریکا د ځمکې لاندې ډېر کانونه، طبیعي سرشاره زیرمې، پراخې ځمکې، د اوبو څخه ډک سیندونه او د اب او هوا ډولونه لري.

_ د امریکا د لویې وچې د کشف څخه وروسته، اروپایانو دې وچې ته مهاجرت کړی دی، هغوی خپلې پانګې هم له ځان سره راوړې وې، دې مهاجرینو خپل مهارتونه او استعدادونه په کار واچول او د خوبیړیو په اوږدوکې یې نوی تمدن منځته راوړ.

_ د شمالي امریکا په اقتصادي پراختیا کې نورو عواملو هم اغیزه درلوده مثلا په دویمې نړیوالې جګړې کې د زیاترو اروپایي هیوادونو صنایع ړنګ شوي، خو متحده ایالاتو د جګړې د سیمې څخه دلرې والي په سبب زیانمن نه شول او ویې کولای شول چې د خپلو سیالانو څخه د مخه شي.

_ شمالي امریکا د زیاترو هیوادونو د پوهانو او متخصصانو په جذبولو سره یې هم وکولای شو چې پر مختللی اقتصاد ولري.

کرنه او مالداري:

شمالي امریکا طبیعي سرشاره او پراخه منابع لري، چې دا علت په دې سیمه کې د کرنې او مالدارۍ د پرمختګ سبب شوی دی. په حاصل خیزو ځمکو کې په زیاته اندازه غنم او جوار کرل کیږي.

د شمالي امریکا نقشه




د شمالي امریکا (د امریکا د متحدو ایالتونو او کاناډا) اقتصادي انځوریزه نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library



کرنیز فعالیتونه د عملي لاروچارو څخه په ګټې اخیستنې سره په ښه توګه سرته رسیږي. مالداري د امریکا په مختلفو سیمو کې له هغې جملې په متحده ایالاتو او کاناډا کې ځانګړې ارزښت لري، په دې هیوادونو کې د غویانو، پسونو او وزو د لویو ګلو او اسانو روزنه کیږي.

**کانونه او صنایع**:

د امریکا په ټوله لویه وچه کې د نفتو ځاګانې او د اوسپنې او ډېروسکرو کانونه پیدا کیږي. همدارنګه د دې لویې وچې نور غوره کانونه سره زر، سپین زر مس، نکل او داسې نور دي.

د امریکې متحده ایالاتو د صنعتي تولیداتو کارخانې په لویو ښارونو لکه نیویارک او د امریکا د پنځه ګونو جهیلونه په شاوخواکې جوړې شوې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمالي امريکا د يادولو وړ صنايع د فلزاتو د ويلې کولو، درندو صنايعو، د پولادو برابرولو، کرنيزو ماشينونو، لارو جوړلو، د وسلې توليدولو، موټر جوړولو، بيړۍ جوړولو، الوتکو جوړولو او بالاخره کيمياوي صنايعو، د نفتو د چاڼولو له صنايعو او نورو څخه عبارت دي.

**د ټولګي دننه فعاليت:**

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او هر ډله دې د لاندې جدول په پام کې نيولو سره هغه طبيعي او بشري عوامل چې د شمالي امريکا د پرمختګ سبب شوي په دوو ورکړ شوو ستونونو کې واضح کړي.

| طبيعي عوامل | بشري عوامل |
|---|---|
| حاصل خيزه پراخه ځمکې | د جګړې څخه لرې والي |
| ........................................ | ........................................ |
| ........................................ | ........................................ |
| ........................................ | ........................................ |

**پوښتنې:**

۱_ د شمالي امريکا د څو غوره کرنيزو پيدا وارو نومونه واخلئ؟

۲_ د امريکا متحده ايالاتو مهمې صنايع کومې دي؟ بيان يې کړئ؟

۳_ د شمالي امريکا د غوره کانونو نمونه واخلئ؟

٤_ د شمالي امريکا د صنايعو په هکله څه پوهيږئ؟ په پنځو کرښو کې يې وليکئ؟

**د ټولګي بهر فعاليت:**

د شمالي امريکا د ليکنې څخه پرته (سپينې) نقشې کې د شمالي امريکا د صنعتي ښارونو ځايونه مشخص کړئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې ټولګيوالو ته وښياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست

# لاتینه امریکا




کرونده

د لاتينې امريکا اقتصاد پر کومو بنسټونو ولاړ دی؟
د لاتينې امريکا هيوادونه د متحده ايالاتو او کانادا په څير پرمختللي نه دي، بلکې د هغو اقتصاد زياتره په کرنيزو محصولاتو او د کاني موادو په را ايستنې ولاړ دی.

**کرنه**:

د شلمې پيړۍ په لومړيو کې چې کوم بدلونونه د کرنې په برخه کې منځته راغلي دي، لاتينې امريکا وکولای شو چې د نړۍ په کرنيز اقتصاد کې مهم مقام خپل کړي. لکه چې دا رنګه نن ورځ کولای شو د جنوبي امريکا د هيوادونو په غوره کرنيزو محصولاتو کې د پنبې، ګنيو، کاکائو، قهوې، کيلې او ربړ نوم واخلو. سربيره پردې د دې سيمې په ځينو هيوادونو کې غلې دانې په ځانګړې ډول غنم او جوار هم په ډيره اندازه کرل کيږي. لکه چې دا رنګه ارجنتاين د غنمو او جوارو مهم توليدوونکی هيواد دی، او برازيل د نړۍ

دککاو د کښت انځور




(c) ketabton.com: The Digital Library

د قهوې مهم صادروونکی دی. همدارنګه د امازون د ځنګلونو اومه ربړ د دې لوېې وچې غوره شتمني شمېرل کيږي. په منځنی امريکا او د کارابين په ټاپوګانو کې کيله، قهوه، کاکائو، ګني، ډول ډول مرکبات او اناناس او همدارنګه سربېره پر هغو په ټوله جنوبي امريکا کې چغندر، قند، کتان او په ځنګلي سيمو کې د ځنګلونو څخه د ګټې اخيستنې محصولات د پاملرنې وړ دي.

**مالداري**:

مالداري د جنوبي امريکا په مختلفو سيمو له هغو جملې په برازيل او ارجنتاين کې ځانګړی ارزښت لري. په دې هيوادونو کې د شنو او پراخو د ښتو د شتوالي له امله د رمو ساتنه او مالداري په ځانګړي ډول د غواګانو روزنه ډېر رواج لري، لکه چې دارنګه په دې ورستيو کلنو کې د غوښو د کنسرو او ساتنې لپاره پوره وسايل برابر شوي چې دغه حالت د مالدارۍ د ډېرې ودې سبب شوی دی.

مالداری



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کانونه او صنایع**:


جنوبي امریکا د طبیعي منابعو له پلوه بډایه لویه وچه ده. په دې لویه وچه کې د نفتو، سروزرو، سپینو زرو، مسو او اوسپنې کانونه شته دي، دا سیمه د نفتي منابعو د درلودلو له پلوه هم د پاملرنې وړ ده. یو د هغو عواملو څخه چې د هسپانویانو او پرتگالیانو پام یې د دې لویې وچې د نیولو لپاره را واړاوه، هغه د قیمتي فلزاتو لکه سروزرو او سپینو زرو شتوالی وه، چې د سپینو زرو زیاتره کانونه په مکسیکو او د بوکسیتو (د المونیمو د تولید لپاره استعمالیږي) په جامیکا کې دي. د نفتو د صنعت ډول ډول کانونه، د فلزاتو ویلې کول او د مسو مهم کانونه هم د چیلي په هیواد کې د یادونې وړ دي. په جنوبي امریکا کې د صنایعو پراختیا خپل لومړني پړاوونه وهي.

د نفتو چڼ ځای



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارخانو یو تصویر



### د ټولګي د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د شمالي امریکا او جنوبي امریکا اقتصاد د کرنې، مالدارۍ، کانونو او صنایعو له پلوه سره پرتله کړي او پایله دې ټولګیوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې:

١ـ د جنوبي امریکا اقتصاد زیاتره په کومو شیانو ولاړ دی؟
٢ـ د جنوبي امریکا ډیر مهم صادراتي محصولات کوم دي؟
٣ـ د لاتیني امریکا په هیوادونو کې د مالدارۍ او رمو ساتنو د پراختیا دلایل ولیکئ؟
٤ـ د جنوبي امریکا د مهمو کانونو نومونه واخلئ؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

لاتیني امریکې ته د هسپانویانو او پرتګالیانو د مهاجرت په هکله یو مطلب د ښوونځي له کتابتون او یا نورو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره په خوکرښو کې ولیکئ، او د جغرافیې د لوست په راتلونکي ساعت کې یې ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دیرشم لوست

## ۲ ، ۲ دشمالي امریکا د مواصلاتي جغرافیې په هکله څه پوهیږئ؟




د شمالي امریکا مهمې لویې لارې

ستاسې له نظره د شمالي امریکا د مواصلاتي لارو اهمیت په څه کې دی؟

مواصلاتي جغرافیه د سوداګریزو مهمو بندرونو، ښارونو او سیمو ترمنځ د اړیکو له مطالعې څخه عبارت ده، چې په دغه تګ لوري باندې د سوداګرۍ مالونه (واردات او صادرات) او د مسافرینو تګ او راتګ کیږي. او مختلف ډولونه لري.

د امریکا مواصلاتي لارې کولای شو تر دوو بیلو عنوانونو لاندې مطالعه کړو.

### شمالي امریکا

### ۱ـ ځمکنی مواصلات:

شمالي امریکا د اوسپنو او لویو لارو ډیرې ګنې کرښې لري، چې ټول ښارونه، دکانونو د راایستنې مرکزونه، صنعتي او لګښتي مرکزونه او د هیوادونو بندرونه یې سره نښلولي دي، یعنې د شمالي امریکا د هیوادونو د اوسپنو کرښې او لویې لارې په خپلو منځنو اوهم د منځنۍ امریکا د بحر الکاهل دغاړې هیوادونو سره نښتي دي، چې له هغو څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو د ډېولوهیوادونو سره سوداګریزې او سفري اړیکې ټینګې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوېې لارې تصوير

## ۲_ د اوبو مواصلات

د ارام او اتلانتیک د سمندرونو ترمنځ د شمالي امریکا جغرافیوي مناسب موقعیت او ساحلي مناسبه وتلې او ننوتلې برخې د دې سبب شوې ترخو، بندرونه، سوداګري او د بېړۍ چلونې فن په دې سیمو کې پرمختګ وکړي، او د نړۍ له سلو څخه زیات هیوادونو سره سوداګري وکړي. همدارنګه د سیندونو د اوبو له لاروېه ګټې اخیستنې سره کولای شي دهیواد په دننه او هم دهغو له لارې د اوبو د نړیوالو لارو سره اړیکې پیدا کړي.

## ج- هوایي مواصلات

له دې ترانسپورت څنې زیاتره په لیرې واټنونو د مسافرینو او هغو مالونو د وړنې لپاره چې درانده نه وي او ارزښت یې ډیر وي ګټه اخیستل کیږي. د امریکا د متحده ایالاتو او کانادا د هیوادونو لویې ترانسپورتي کمپنۍ د ډیرو لویو او وړو الوتکو په لرلو سره د هیواد په دننه اوبهر کې په ترانسپورتي برخه کې فعالیت کوي.

د هوایې ډګر تصویر




(c) ketabton.com: The Digital Library



## د۔ د پايپ لين پواسطه وړل

د دې وسيلې په واسطه زياتره مايعات له ضايعاتو پرته په ډيره چټکۍ سره د لګښت مرکزونو ته وړل کيږي. دې وسيلې زياتره دشمالي امريکا په هيوادونوکې پراختيا موندلې او د نفتو،ګازو او اوبو د وړلو لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي. د تکزاس ـ نيويارک دګاز پايپ لين د امريکا د متحده اياﻻتو ډير اوږد او مهم پايپ لين دی. په کاناداکې هم د هيواد د لويديځ يعنې د البرتا د ايالت او دهغه د شاوخوا سيمو څخه نفت اوګاز د پايپ لينونو په واسطه د لګښت مرکزنوته وړل کيږي.

د طبيعي ګاز پايپ لين



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوه کسیزه ډلو کې تنظیم شي او د ورکړ شوي نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره دې له یو بل سره مشوره وکړي، چې د امریکا په متحده ایالاتو کې د شیکاګو سوداګریزه صنعتي ښار(د مشیګان د جهیل په جنوب لویدیځه غاړه کې) د اوسپنو د کرښو او لویو لارو په وسیله له کومو بندرونو او ګاونډیو هیوادونو سره نښلول شوی دی، او د خپل فعالیت پایلې دې ټولګي والوته ووایي.

## پوښتنې

۱ـ مواصلاتي جغرافیه تعریف کړئ.
۲ـ دمتحده ایالتونو د اوسپنې کرښې د کومو هیوادونو د اوسپنو له کرښو سره نښلول شوي دي؟
۳ـ د شمالي امریکا جغرافیایي موقعیت د دریو سمندرونو ترمنځ د کوم ډول ترانسپورت د پرمختیا سبب شوی دی؟
٤ـ دشمالي امریکا کوم لوی سیندونه د بیړۍ چلولو وړ دي؟
٥ـ د هوایي ترانسپورت څخه زیاتره د څه لپاره کار اخیستل کیږي؟
٦ـ د پایپ لین د ترانسپورت ارزښت توضیح کړئ؟


## له ټولګي څخه بهر فعالیت

له ورکړ شوي نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره که وغواړو چې د امریکې متحده ایالاتو د الاسکا له ایالت څخه د لویو لارو په وسیله د پانامې هیواد ته سفر وکړو د کومو هیوادونو څخه باید تیرشوو. په دې هکله خپل معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دیرشم لوست

## ۲_ جنوبي امریکا





د جنوبي امریکا مهمې لویې لارې

ولې د جنوبي امریکا په لویه وچه کې ځمکنۍ ترانسپورت ښه وده او پرمختګ نه دی کړی؟

- په دې لویه وچه کې طبیعي عوامل د ارتباطي لارو خنډ ګرځي. د انديز د غرونو لړۍ له يوې خوا او د امازون پراخو ځنګلونو له بلې خوا د ګړو ګټو لرونکو هیوادونو د ترانسپورتي لارو پراختیا لړه ممکنه کړېده. د جنوبي امریکا هیوادونه دځمکنیو لارو له پلوه بې وزلي دي.


د ځمکنۍ لارې یو تصویر



### الف ـ ځمکني مواصلات

په جنوبي امریکا کې د اوسپنو کرښې زیاتره په دوو ګڼ میشتو سیمو کې یعنې د برازیل د قهوې په تولیدي سیمې د ریودو ژنیرو په شاوخواکې او د پامپاس په حاصل خیزه سیمې د بونس ایرس په شاوخواکې پراختیا موندلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سړکونه او لويې لارې

د جنوبي امريکا د اوسپنو مهمې کرښې په لاندې ډول دي:

۱ـ د ارجنتاين او چيلي د هيوادونو ترمنځ د اوسپنو سراسري ليکه.

۲ـ د ارجنتاين له هيواد څخه د بوليويا هېواد ته اوسپني ليکه.

۳ـ له ارجنتاين څخه د برازيل هيواد ته د ختيځ سواحل د اوسپنې لار.

٤ـ له بوليويا څخه د چيلي هيواد ته د اوسپنې کرښه

د پان امريکن په نامه لويې لارې چې د جنوبي امريکا د زياترو هيوادونو پلازمينې يې سره نښلولې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنوبي امریکا له مهمو لویو لارو څخه شمیرل کیږي.

## ب ـ د اوبو مواصلات

دجنوبي امریکا هیوادونه داوبو د لارو له پلوه شتمن دي، ځکه زیاتره سیندونه یې په ډیر اوږده واټن د بیړیو چلولو وړ دي. د بیلګې په توګه د امازون سیند د ٤٠٠٠ کیلومترو په واټن د بیړیو چلولو وړ دي. له بلې خوا د جنوبي امریکا ښه جغرافیوي موقعیت د ارام او اتلانتیک د سمندرونو ترمنځ د سمندري ترانسپورت د پراختیا سبب شوی دی. د پانامې کانال چې د اتلانتیک او ارام سمندرونه سره نښلوي، اوږدوالی یې ۸۲ کیلومتره دی چې د ځانګړې ستراتیژیکي او اقتصادي ارزښت درلودونکی دی.

په جنوبی امریکا د یوه بندر تصویر



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج ـ هوايي مواصلات

د ځمکنيو لارو د پراختيا محدوديت د دې سبب شوی چې د جنوبي امريکا ډېر هيوادونه هوايي لاروته زياته پاملرنه وکړي. پر نړيوالو هوايي کرښو سربيره چې ورځخه ګټه اخيستل کيږي د دننيو اړيکو زياته برخه هم په ځانګړي ډول د برازيل او ارجنتاين په هيوادونوکې چې پراخوالې يې ډېر زيات دی، د هوا له لارې سرته رسيږي.



د هوايي ډګر يو تصوير

### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په پنځه کسيزه ډلو کې تنظيم شي او هره ډله دې د جنوبي امريکا د ځمکني ترانسپورت د ستونزو په هکله په خپل منځ کې بحث وکړي او د خپل بحث پايلې دې ټولګي والوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

١ـ هغه طبيعي عوامل چې د جنوبي امريکا د ځمکنيو لارو د پراختيا په مخ کې خنډ ګرځيدلي وواياست؟
٢ـ د جنوبي امريکا د اوسپنو ليکي زياتره په کومو سيمو کې جوړې شوې دي؟
٣ـ ولې په جنوبي امريکا کې د اوبو ترانسپورت د ځمکني ترانسپورت په پرتله پرمخ تللی دی؟
٤ـ په جنوبي امريکا کې د هوايي ترانسپورت د ډيرې پرمختيا علتونه کوم دي. ؟

### له ټولګي څخه بهر فعاليت

د جنوبي امريکا ترانسپورتي نقشه په غور سره مطالعه کړئ او ووياست، که چيرې وغواړو د ارجنتاين دهيواد له پلازمينې بونس ايرس څخه دچيلي دهيواد پلازمينې سانتياګوته سفر وکړو د کومو مواصلاتي کرښو څخه ګټه اخيستلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امریکا د څېرکي لنډیز:

ـ امریکا یوازنی لویه وچه ده چې دشمال له قطب څخه د جنوب تر قطب پورې اوږده پرته ده.
ـ د امریکا لویه وچه په ۱٤۹۲م کال کې د کرستف کولمب په واسطه کشف شوې ده هغه بل سړي چې دې لویې وچې ته یې سفر وکړ امریکو سپو چې وه چې د دې لویې وچې نوم (امریکا) هم د نوموړي شخص له نوم څخه اخیستل شوی دی.
ـ دامریکا د لویې وچې غرونه په دوو برخو ویشل شوي، لکه د اپالاش لږ لوړ زاړه غرونه او د راکي او اندیز لوړ او ځوان غرونه.
ـ دشمالي امریکا ډېر لوی سیند میسي سي پي دی چې د مکسیکو په خلیج کې توېږي او دبیړیو چلولو وړ هم دی.
ـ د نړۍ د اوبو ډیر ډک سیند امازون دی. چې په جنوبي امریکا کې بهیږي او د بیړیو چلولو وړ دی.
ـ د شمالي امریکا لوی جهیلونه د سوپریر، میشیگان، هورن، ایري او انتاریو پنځګوني جهیلونه دي. چې د هغو اوبه خوږې دي، د نړۍ ډېر لوړ جهیل تي تي کاکا په جنوبي امریکا کې دی.
ـ دا لویه وچه د خپل جغرافیایي موقعیت په سبب د نړۍ د ډول ډول اقلیمونو او ډول ډول نباتاتو لرونکې ده.
ـ د دې لویې وچې اصلي اوسیدونکي سره پوستکي دي، او د امریکا سپین پوستکي اصلا اروپایي مهاجرین دي.
ـ د شمالي امریکا د نفوسو ډک ښار نیویارک او د جنوبي امریکا بونس ایرس دی.
ـ د امریکا سمندرګي (بحیرې) اقتصادي او ستراتیژیکي ارزښت لري.
ـ د پانامې کانال د اوبو له ګڼه ګوڼې ډکه لاره ده، چې د اتلانتیک سمندر د بحر الکاهل سره نښلوي.
ـ د دې لویې وچې ښه موقعیت د دوو سمندرونو (اتلانتیک او ارام) ترمنځ د زیاتو خلیجونو د منځته راتللو سبب شوی دی چې لوی یې د مکسیکو خلیج دی.
ـ د امریکا په لویه وچه کې ۵۱ سیاسي واحدونه شته، چې له هغو څخه یې ۳۵ خپلواکه هیوادونه دي.
ـ د امریکا لویه وچه د دوو کلتورونو لرونکې ده، چې په شمالي امریکا کې انګلوساکسون اویه جنوبي امریکا کې لاتین دي.
ـ یو دهغو علتونو څخه چې د شمالي امریکا د اقتصادي ودې سبب شو له دوهمې نړیوالې جګړې څخه د هغې لیریوالی و، چې په نوموړې جګړه کې د زیاترو اروپایي هیوادونو صنایع ویجاړې شوې، خو د امریکا متحده ایالات په نړۍ کې د هغو یوازنی پوره کوونکي وو.
ـ د امریکا د لویې وچې جغرافیایي موقعیت چې د دوو سمندرونو اتلانتیک او الکاهل ترمنځ پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، د دې سبب شوی چې د اوبو ترانسپورت پکې زيات پرمختګ وکړي. همدارنګه د مسافرينو او هغو مالونو د وړلو لپاره چې حجم يې لږ او ارزښت يې ډېر وي له هوايي ترانسپورت څخه کار اخيستل کيږي.

څلورمه ګڼه جدول: د امريکايي هېوادونو جغرافيايي ځانګړتياوې (د مطالعې لپاره)

| ګڼه | هېوادونه | پلازمېنه | پراخوالی په کيلو متر مربع | نفوس په ۲۰۰۲م کال کې | موقعيت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آرجنتاين | بوئنوس آيرس | ۲۷۸۰۰۹۲ | ۳۸۹۷۱۰۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۲ | آنتي ګوا باربودا | سنت جونز | ۴۴۲ | ۷۸۲۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۳ | اروګوای | مونته ويدئو | ۱۷۶۲۱۵ | ۳۲۶۶۰۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۴ | اکوادور | کيتو | ۲۷۲۰۴۵ | ۱۳۴۱۹۰۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۵ | السوادور | سان سالوادور | ۲۱۰۴۱ | ۶۹۹۱۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۶ | د امريکا متحده ايالتونه | واشنګټن‌ډي‌سي | ۹۳۶۳۳۶۴ | ۲۹۹۳۳۰۰۰۰ | شمالي امريکا |
| ۷ | باربادوس | بريج تاوان | ۴۳۰ | ۲۷۰۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۸ | بهاما | ناسائو | ۱۳۹۳۹ | ۳۲۷۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۹ | بليز | بلموپان | ۲۲۹۶۵ | ۳۰۱۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۰ | بوليوی | لاپاز اوسوکر | ۱۰۹۸۵۸۱ | ۹۳۵۴۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۱۱ | پاراګوای | اسون سيون | ۴۰۶۷۵۲ | ۵۹۹۳۰۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۱۲ | پانامه | پانامه‌ستي | ۷۵۵۱۷ | ۳۱۹۱۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۳ | پيرو | ليما | ۱۲۸۵۲۱۶ | ۲۷۵۴۴۳۰۵ | جنوبي امريکا |
| ۱۴ | ترينيداداوتوباکو | پرت آو اسپاين | ۵۱۲۸ | ۱۳۰۱۰۰۰ | جنوبي امريکا |
| ۱۵ | جامايکا | کينګستون | ۱۰۹۹۱ | ۲۶۶۷۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۶ | دومنيکا | روسو | ۷۵۱ | ۶۹۵۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۷ | دومينکن | سانتودومينګو | ۴۸۶۷۱ | ۹۰۲۱۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۸ | سنت کيتس ورنويس | باستر | ۲۶۱ | ۴۹۱۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۱۹ | سنت لوسيا | کاسترس | ۶۱۷ | ۱۶۵۰۰۰ | منځنۍ امريکا |
| ۲۰ | سنت وين سنت وګرنادين | کنګزتاون | ۳۸۹ | ۹۶۸۰۰ | منځنۍ امريکا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| گڼه | هېوادونه | پلازمېنه | پراخوالی په کیلو متر مربع | نفوس په ۲۰۰۲م کال کې | موقعیت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | سورینام | پاراماریبو | ۱۶۳۲۶۵ | ۵۰۲۰۰۰ | جنوبي امریکا |
| ۲۲ | چیلي | سانتیاګو | ۷۵۶۶۲۶ | ۱۶۴۳۶۰۰۰ | جنوبي امریکا |
| ۲۳ | کاستاریکا | سان خوزه | ۵۱۱۰۰ | ۴۲۷۴۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۲۴ | کاناډا | اوتاوا | ۹۹۷۰۶۱۰ | ۳۲۵۴۷۰۰۰ | شمالي امریکا |
| ۲۵ | کلمبیا | بوګوتا | ۱۱۴۱۷۴۸ | ۴۳۵۹۳۰۰۰ | جنوبي امریکا |
| ۲۶ | کیوبا | هاوانا | ۱۱۰۸۶۱ | ۱۱۲۹۴۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۲۷ | ګرینادا | سنت جوزجز | ۳۴۴ | ۱۰۷۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۲۸ | ګواتیمالا | ګواتیمالاسټي | ۱۰۸۸۸۹ | ۱۳۰۱۹۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۲۶ | ګویان | جورج تاون | ۲۱۴۹۶۹ | ۷۵۶۰۰۰ | جنوبي امریکا |
| ۳۰ | مکسیکو | مکسیکو سټي | ۱۹۵۸۲۰۱ | ۱۰۴۰۳۸۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۳۱ | نیکاراګوا | ماناګوا | ۱۳۰۷۰۰ | ۵۲۳۳۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۳۲ | ونیزویلا | کاراکاس | ۹۱۲۰۵۰ | ۲۷۲۱۶۰۰۰ | جنوبي امریکا |
| ۳۳ | هایتی | پورتوپرنس | ۲۷۷۵۰ | ۸۸۰۸۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۳۴ | هاندوراس | تیګوسیګالپا | ۱۱۲۴۹۲ | ۷۳۲۷۰۰۰ | منځنۍامریکا |
| ۳۵ | برازیل | برازیلیا | ۸۵۴۷۴۰۴ | ۱۸۶۷۷۱۰۰۰ | جنوبي امریکا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جغرافيايي اصطلاحات

الف:

**ابناء**:

د اوبو نرۍ طبيعي بهير دی چې دوه لويې اوبه (سمندر يا سمندرګی) سره نښلوي لکه دجبل الطارق ابناء.

**اتازوني**:

فرانسويانو د امريکا د متحده ايالاتو هيواد د اتازوني په نوم يادکړی دی.

**استعمار**:

په ننني اصطلاح د ابادۍ په نوم دکمزورو هيوادونو په چاروکې د ځواکمنو هيوادوو لاس وهنې ته ويل کيږي.

**اوريشيا**:

دا اصطلاح د اسيا او اروپا له دووکلمو څخه اخيستل شوې ده، او دواړه لويې وچې تر يو عنوان لاندې د اوريشيا په نوم يادېږي، ځکه دواړه سره نښتې دي.

**اورغورځوني (اتشفشان)**:

د ځمکې په قشر کې د مګما Magma د ويلې شوو موادو در راوتلو خولې دې چې په زيات فشار خپله لاره د ځمکې د سطحې په لور پرانيزي او د لاوا ويلې شوي مواد ورڅخه راوځې.

**پامپاس**:

د جنوبي امريکا د ډيرو او لوړو وښو لرونکو جلګو ته ويل کيږي چې د جنوبي امريکا په منځنيو عرض البلدونو کې د اتلانتيک له سمندر څخه د انديز تر غرونو پورې غزيدلې ده او د برازيل له جنوب څخه تر اوروګوای او ارجنتاين پورې پرته ده. اوس د دې جلګو پراخه سيمې د غنمو، جوارو، وريجو اوکتان کروندو نيولې دي او مالدارۍ هلته ډيره پراختيا موندلې ده. د پامپاس اصطلاح د جنوبي امريکا د نورو جلګو لپاره هم استعماليږي.

**تروپيک(استوايي آب او هوا)**:

هغه اب او هوا چې د استوا د کرښې دشمالي عرض البلد د پنځو درجو او د جنوبي عرض البلد د لسو درجو (د سمندرونو د شتوالي له امله ) ترمنځ شته، د هغو له ځانګړتياو څخه دکال په اوږدوکې يو شانته زياته تودوخه، د ځانګړو فصلونو نشتوالی، او ډير باران دی. لمر دکال په اوږدوکې تل عمود اويا عمودته نږدې لګيږي. هميشنی لنده بل اوګڼ ځنګلونه د دې أب اوهوا نورې ځانګړتياوې دي.

**تکتونيک**:

د ځمکې دننه ټولو قواووته ويل کيږي، چې دځمکې په قشرکې د طبيعي پديدو د منځته راتلو لکه اورغورځونې، زلزلې اونورو د منځته راتلو سبب کيږي.

**تمدن**:

ښاري کيدل، د ښاري دودونو او دستوررونو سره عادت کول او خپل د هوساينې او پرمختګ د وسايلو برابرولوته تمدن وايي.

**توريست**:

له تاريخي پلوه د فرانسوي اشرافو بچيانوته چې د زده کړې او د ژوندانه د تجربو د حاصلولو لپاره به په سفر تلل توريست ويل کيده. د توريست اصطلاح د ۱۹ م پيړۍ راهيسې رواج شوې او وروسته دا اصطلاح په فرانسه کې د هغه چا لپاره پکار يوړل شوه چې د تفريح او د خپل وزګار وخت د تيريدو لپاره به يې په فرانسه کې سفرکاوه د غه ډول سفرونوته وروسته د نړۍ ګرځيدونکو يا توريزم اصطلاح استعمال شوه.

**تندرا**:

روسي کلمه ده چې د روسيې دشمال له ونو پرته سيمو ته ويل کيږي چې ژمی يې سوړ او اوږد دی، اوړی يې ډير لنډ او د تودوخې درجه يې له لسو درجو څخه کښته وي، په همدې لنډه موده کې د ځمکې د مخ کنګلونه ويلې کيږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نباتات لکه خزه او ګلسنګ وده کوي.

**ټاپو وزمه(جزیره نما)**:

د وچې یوه برخه ده چې په اوبو کې ننوتلې وي او درېو خواوته یې اوبه وي.

**ټاپو(جزیره)**:

د وچې یوه ټوټه چې د سمندر، سمندرګيو، جهيلونو او سیندونو په منځ کې پرته وي.

**جمهوري**:

هغه حکومت چې په هغه کې د دولت مشر د خلکو لخوا د یوې ټاکلې مودې لپاره غوره شي.

**جيلوجيکي لومړۍ دوره**:

دغې دورې د ۲۷۵ څخه تر ۲۳۰ میلیونو کلونو مخکې دوام درلود چې په هغې کې د اسیا او اروپا لوی غرونه او د شمالي امریکا د اپلاش غرونه تشکیل شوي دي.

**جهيل**:

پراخو ولاړو اوبو ته چې د وچې په واسطه په طبیعي توګه را چاپیره شوي وي یعنې څلورو خواوته یې وچه وي جهیل ویل کیږي.

**څوکه(قله)**:

د غره ډیرې لوړې نقطې ته څوکه وايي، لکه د بابا د غره لوړه څوکه چې شاه فولادي ده.

**څپې**:

د سمندرونو یا سمندرګيو د اوبو یوه برخه چې د بادونو د لګیدو په سبب په حرکت راځي او د سواحلو خواته پرمخ ځي، د څپې لوړې برخې ته اوج او ټيټې برخې ته یې نشیب وايي.

**ځوان غرونه**:

هغه غرونه چې د جیولوجی په دریمه دوره کې منځته راغلي دي. دا غرونه لوړ، غاښې غاښې، زیات څوړې، تیرې څوکې او ژورې درې لري لکه په افغانستان کې د هندوکش غرونه، په امریکا کې د راکي او اندیز غرونه او په اروپاکې د الپ د غرونو لړۍ.

**ځروبی(ابشار)**:

له لوړو څخه کښته داوبو راتویدلو ته وايي. چې د سیندونو په بهیر کې منځته راځي لکه د انجیل ځروبی د ونزویلا په هیواد کې.

**خليج**:

په وچه کې د ژورو پراخو اوبو ننوتلو څخه عبارت دی چې له درېو خواوو وچې او له یوې خوا په اوبو پورې نښتې وي.

**د سيند حوزه**:

هغه سیمه چې هلته اصلي سیند د خپلو ټولو مرستیالانو سره بهیږي.

**زلزله**:

د ځمکې د قشر (پوټکی) ناځاپي احساسوونکې او چټکه لړزه ده چې د راټولې شوې انرژۍ د ازادیدو او د مګما د قوي فعالیتونو اویا د ځمکې لاندې طبقاتو د نورو عواملو له امله منځته راځي او کیدای شي د ځمکې پرمخ د زیاتو بدلونونو او نورو مالي او ځاني ډیرو تاوانونو سبب شي.

**زاړه غرونه**:

هغه غرونه چې د پالیوزویک په دوره کې منځته راغلي دي لږ لوړوالی، ګنبځي بڼه، لږ څوړې، لږې ژورې درې لري. لکه په شمالي امریکاکې د اپلاش غرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سيند**:
د اوبو بهيدلوته چې په طبيعي توګه ټول کال يا د کال په يوه موده کې په يوه لوري رواني وي سيند ويل کيږي. سيندونه معمولا د سمندرګيو، سمندرونو، جهيلونو، با تلاقونو يا نورو سيندونو په لور بهيږي. هغه تګ لوري ته چې سيند بهيږي ورته د سيند بستر وايي.
**سمندري بندر**:
د سمندر پر غاړه ښار دی چې بيړۍ هلته لنګر اچوي او د سوداګريزو مالونو وړل او راوړل هلته ترسره کيږي.
**سمندري بهير**:
د سمندر د سطحې د اوبو سورور(عريض) بهير دی چې په دوه غوره برخو، تودو او سړو اوبو ويشل کيږي د يو بهير لپاره د سړو او تودو اوبو د بهير اصطلاح استعمال د شاوخوا د اوبو د حرارت په پرتله دی. لکه د ګلف ستريم او کوروشيو د تودو اوبو بهير او د هامبولت(پيرو)، لابرادور او منګويلا د سړو اوبو بهير.
**ساحل**:
د سيند د اوبو د سطحې او د وچې ځمکې ترمنځ ګډه پوله ده يا د اوبو او وچې ترمنځ بيلوونکی حد دی.
**سرچينه**:
هغه ځای چې سيند ورڅخه پيل کيږي.
**سب تروپيک**:
هغه اب او هوا چې په اوړي کې وچه اوپه ژمي کې مرطوبه او معتدله وي.
**ستراتيژيکه سيمه**:
له هغې سيمې څخه عبارت ده چې د سياسي، نظامي او اقتصادي له پلوه ځانګړې ارزښت ولري.
**صخره**:
د تيګو او ډبرو مجموعې ته ويل کيږي چې د يو يا څو ډولونو منرالونو څخه منځته راغلې وي.
**طغيان**(**مستيدل**):
داوبو ناځاپي زياتوالی يا د سيندونو سيلابي کيدلو ته وايي چې د زياتو اورښتونو يا د واورو د چټکې ويلې کيدنې په سبب منځته راځي.
**طول البلد**:
هغه کرښې چې د شمالي او جنوبي قطب ترمنځ امتداد لري اوپه عرض البلدونو عمودې وي.
**طبيعي منابع**:
هغه د ګټې اخيستنې وړ منابع چې خدای تعالی(ج) د انسانانو په واک کې ورکړي دي لکه کانونه، حاصل خيزه خاورې، ځنګلونه، د اوبو قوه، سمندري حيوانات او داسې نور.
اوس طبيعي منابع په دوو غوره ډلو لګښتي او نوي کيدونکو (د بيا ګټې اخيستنې) وړ ويشل شوي دي د بيا ګټې اخيستنې منابع، نوې کيږي او بيا بيا د ګټې وړ وي لکه د بادونو او له لمر څخه لاس ته راغلې انرژي او هغه منابع چې د يو ځلې ګټې اخيستنې وړ دي لکه د ډبرو سکاره، نفت او طبيعي ګاز.
**عرض البلد**:
د استوا کرښې سره موازي دايرې دي چې ختيځ او لويديځ لوري لري او د طول البلد په دايرو عمودې وي لويه دايره يې د استوا کرښه او ډيره کوچنۍ يې د ۹۰ درجو دايره ده.
غرب الهند:
دا اصطلاح لومړی ځل د کارابين په سمندرګيو کې د پرتو ټاپوګانو لپاره استعمال شوه. دا ټاپوګان د لوی انتيل(کيوبا، بهاما، دومنکين، هايتي) او کوچني انتيل(ترينيداد او توباګو) څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غرنۍ آب او هوا**:
د غرنیو سیمو ځانګړې اب او هوا ده چې لوړوالی (ارتفاع) پکې ټاکلی رول لري، په دې آب او هواکې هوا سړه او معمولا په ژمي کې واورې او باران اوري.

**فدرال**:
د هغو حکومتونو ځانګړتیا ده چې د خپلواکو ایالتونو د یو والي په صورت کې تشکیل شوي وي او په سیاسي او نظامي چاروکې د مرکزي حکومت تابع وي.

**قطبي اقلیم**:
هغه ډول اقلیم ته ویل کیږي چې ډیره سړه او کنګل أب او هوا لري. دا ډول اقلیم د شمالي او جنوبي قطبي سیمو ځانګړی اقلیم دی.

**کانال**:
د سیندونو، سمندرونو او سمندرګیو ترمنځ د انسان په وسیله د وچې کیندل د حمل او نقل د اسانولو لپاره.

ګورنرجنرال(فرماندارکل):
په یوه هیواد یا ایالت کې اداري لوړ مقام دی چې د انګلستان د هم ګټو(مشترک المنافع) هیوادونو په منځ کې تشریفاتي اړخ لري.

**ګلف ستریم**:
د تودو اوبو بهیر د مکسیکو د خلیج څخه له تیریدو وروسته دکانادا تر سواحلو پرمخ ځي، او بیابې لورى د اروپا خواته بدلون مومي او د شمال لویدیځې اروپا د اوبو د تودیدلو سبب کیږي.

**لویه وچه**(براعظم):
د سمندرونو، سمندرګیو، غرونو ترمنځ لويې وچې ته براعظم وايي لکه د اسیا، اروپا، افریقا، امریکا، استرالیااو اقیانوسیې او انتارکتیکا لويې وچې.

**مدو جذر**:
د سمندرونو، سمندرګیو، خلیجونو او جهیلونو د اوبو منظم او یا پرله پسي دوره يي پورته کیدل او ښکته کیدل چې د سپوږمۍ او لمر د جاذبې د قوې په علت په ٢٤ ساعتونو کې دوه ځلې تکرارکیږي.

**معتدله سیمه**:
داسیمه د شمالي او جنوبي عرض البلدونو د ٢٣،٥ او ٦٦،٥ درجو ترمنځ پرته ده او د کال د څلورو فصلونو شتوالی د دې سیمې له مهمو ځانګړتیاوو څخه دی.

**مصب**:
هغه ځای دی چې هلته د سیندونو اوبه سمندرګیو، سمندرونو، جهیلونو یا لوی سیند ته تويیږي.

**مرستیال**:
هغه کوچني سیندونه چې اوبه يې د ښي یا چپ اړخ څخه لوی سیند ته تويیږي.

**مستعمره**:
هغه سیمه یا هیواد چې د پردي دولت له خوا نیول شوي وي.

هم ګټي(مشترک المنافع) هیوادونه:
د هیوادونو ځانګړتیاوې چې په یوه ډول سره يې یو والی کړی وي او د یووالي مهمه ځانګړتیاو يې اقتصادي عامل دی لکه د انګلستان د هم ګټو هیوادونو ټولنه.

**وادي**:
د دوه غرونو ترمنځ نسبتا پراخه ساحه ده چې هلته سیند بهیږي او د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د ژوند لپاره يې ښه شرایط برابر کړي وي.

**یخچال**:
د همیشني کنګل پنډې او لويې کتلې دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**